# اووه

انتوني برونو

(ناول)




Ketabton.com

ژباړن: عزیز بسام

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووه

# Seven

(ناول)

لیکوال:

انتوني برونو

ژباړونکی:

عزیز بسام

(c) ketabton.com: The Digital Library


* د کتاب نوم: اووه (ناول)
* لیکوال: انتوني برونو
* ژباړونکی: عزیز بسام
* خپروونکی: کائینات څېړنیز او د ژباړي مرکز: کابل – افغانستان
* کمپوز او ډیزاین: کائینات څېړنیز او د ژباړي مرکز
* لومړی چاپ: ۱۳۹۶ ش – ۲۰۱۷ ز
* د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
* د خپروونو لړ: ۱۱۰
* ISBN: 978-9936-643-02-4

کائینات څېړنیز او دژباړي مرکـــــز

Kāyenāt Research and Translation Center

مرکز تحقیقات و ترجـــــمه کاینات

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د پولیسو دوه کشفي افسران سامرسیټ او ډېویډ میلز د یوه داسې مجرم له قضیې سره لاس او ګرېوان دي چې پر له پسې ځنځیري وژنې تر سره کوي. اصلي قاتل خلک د اوو لویو ګناوو پر بنسټ وژني. نوموړی غرور، غوسه، حسادت، شهوت، نسورتوب، حرص او لټي لویې ګناوې ګڼي او هر هغه څوک چې د دغو ګناوو پر بنسټ وژني، د جرم په سیمې کې د ګناه نوم هم ورسره ولیکي.

د کشف افسر سامرسیټ اووه ورځې وروسته تقاعدېږي. سامرسیټ او ډېویډ میلز هڅه کوي چې قاتل ونیسي او د قانون مونګولو ته یې وسپاري. دا چې دا ځیرک قاتل په څه ډول نیول کېږي، او دا کشفي افسران څومره ستونزې ګالي، په دې پولیسي ناول کې به یې ومومئ.

یاد ناول د سېنمایي فلم (اووه – Seven) پر بنسټ انتوني برونو په ۱۹۹۵ زېږدیز کال کې لیکلی دی. دا دوهم ناول دی چې په پښتو ژبه یې ژباړم. لومړی ژباړه مې د (۱۹۸۴) په نامه د نامتو لیکوال جورج اورویل یو سیاسي ناول وو چې په ۲۰۱۳ زېږدیز کال کې چاپ شو.

د دواړو کتابونو په ژباړه کې د هیواد نامتو لیکوال، شاعر او د اطلاعاتو او کلتور پخواني وزیر ښاغلي عبدالباري جهاني ډېر هڅولی یم او تر ډېره حده یې عالمانه لارښوونې راته کړې دي. زه د نوموړي منندوی یم او د ښاغلي عبدالباري جهاني له نظریو پرته به دا راته نا شونې وای چې انګرېزي کتابونه په دې ډول وژباړم . او غواړم د هېواد له نامتو لیکوال او ناول لیکونکي ښاغلي ایمل پسرلي څخه هم مننه وکړم چې د ژباړې په چارو کې یې لارښوونې راته وکړې. او همدارنګه غواړم د کابل پوهنتون د استاد ښاغلي محمود مرهون او د نوموړي تر مشرۍ لاندې د کائینات څېړنیز او د ژباړې مرکز څخه د زړه له کومې مننه وکړم چې دا کتاب یې په ښه بڼه راته چاپ کړ.

عزیز بسام

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لومړی څپرکی

# نسورتوب (Gluttony)

کله چې سامرسيټ ساعت ته وکتل، ستنو يې په تياره شپه دوې بجې ښودلې. نوموړی تر يوه ساعت لا ډېر پر بستر باندې پروت وو، خو سترګې يې خلاصې وې او خوب نه ورتلی. د هغه په فکر کې ډېر څه ور ګرځېدل. درويشت کلونه د کشفي پوليس په توګه دنده تر سره کول او د وژل شويو انسانانو د قضيو د څېړلو وروسته – هغه ته نو اوس ډېره ستونزمنه وه چې په اسانۍ سره خوب ورشي.

يو کشفي پوليس انسان او انسانيت په ډېر بد حالت کې ويني. هغه د هر ډول وژنو سره چې انسان يې تصور کولای شي، لاس او ګرېوان وي. د بېلګې په توګه په ټوپک وژل شوي خلک، په چړو او يا په زهرو وژل شوي خلک، نارينه وو چې خپلې مېرمنې وژلې وي، ښځو چې مړونه وژلي وي، ماشومانو چې ميندې او پلرونه وژلي وي، دوستانو چې نور دوستان وژلي وي، او همدارنګه د بېګانه وو وژنه. دا وژنې کله د غلا په موخه تر سره کېږي، او کله هم هيڅ دليل او وجه يې معلومه نه وي.

خو سامرسيټ اوس نور هر څه پرېږدي. د نوموړي تقاعد ته يوازې اووه ورځې پاتې دي. هغه نور ښار پرېږدي، ټول جنايتونه هېروي، او په آرامۍ سره په خپل ټاټوبي کې نوی ژوند پيلوي.

هغه د خپل د ښار د ترحد ډېر تاوتريخوالي او جنايتونو شاهد وو. د هغه انځوريز پوسټرونه، کتابونه او نور شيان ټول شوي وه او نوي کور ته د لېږد او کډې لپاره چمتو وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوازې اووه نورې ورځې پاتې وې. هغه ته به کله کله دا په فکر کې ورګرځېده چې څومره ډېرېږي په دې ښار کې ژوند کړی وو. هغه دوه ځلې کوزده کړې وه. یو ځل یې وغوښتل چې ماشومان ولري – خو په ښار کې نه – هیڅکله هم نه.

هغه په دې پوه وو چې د ښار ژوند ماشومانو ته څه زیان رسوي. خو هغه ته تل دا احساس ورپه زړه کېدی چې باید ماشومان ولري. اوس هم ناوخته نه وو، هغه ته به تل دا په فکر کې ورګرځېده – پنځه څلوېښت کلونه دومره ډېر عمر نه وو چې انسان دې ماشومان ونشي لرلای. هغه اوس هم ښایي د ژوند د ملګرې سره وویني – دا ممکنه وه. هر څه ممکن وه خو چې یو ځل د دغه ځای څخه ووځي.

یو پله یې ناڅاپه پر معده باندې درد پیدا شو. آیا هغه خو به کومه تېروتنه نه کوله؟ هغه خپل ټول عمر په ښار کې تېر کړی وو. که یو ځل یې د کلي ژوند خوښ نه شو؟ هغه هڅه کوله چې ډېر ځُرت ونه وهي او ویده شي. هغه له ځانه سره وویل – هر څه به سم شي. د هغه یوازې اووه نورې ورځې د جنایت، شور ماشور، ګڼوڼې او تاوتریخوالي په ښار کې پاتې دي، وروسته به د هغه ژوند بېرته له سر نه پیل شي.

د غرمې وروسته، سامرسیټ هغه کور ته یو ځل ورغلی چې نومړي یې د اخیستلو پلان درلود. هغه یو زوړ کور وو او ترمیم ته یې اړتیا درلوده، خو بیا هم دده خوښ وو.

بېرته چې راتلی، په اورګاډي کې کښېنستی، د تګ په وخت کې یې فارمونو او ځمکو ته کتل. کلي وچ وه او فارمونه د بېدیاوو په څېر ښکارېدل. هغه چې ښه ځیر شو، سوځلي موټران یې پر وچو او خالي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځمکو ور په سترګو کېدل. هغه وپوهېدی چې ښار ته کرار کرار ور نیږدې کېږي. سامرسیټ لوګیو او دوړو ته وکتل چې پر ښار باندې خپرې وې. کله چې اورګاډی ودرېدی، هغه نه غوښتل چې ښکته شي. هغه غوښتل چې پر خپل سیټ باندې پاتې شي او بېرته خپل نوي کور ته لاړ شي خو له ځانه سره یې ووېل چې اوس خو یوازې اووه نورې ورځې پاتې دي. هغه ددې توان درلود چې اووه نورې ورځې هم تېرې کړي. د درویشتو کلونو ستونزو وروسته به نو اووه ورځې څه وي؟

دباندې چې کله پر سړک باندې ټکسي ته ایسار وو، د ښار وحشت-ځپلي حقیقت یې زړه ور وخوړ. د ټرافیکو شور ماشور، د وګړو ځغستاوو، چیغو، نعرو او بې پروایي ټوله ځای له وحشت نه ډک کړی وو.

یوه لېون-حاله او آواره سړي غوښتل چې د یوه ګرځندوی د کالو بکس پورته کړي.

لېوني سړي نعره کړه: "زه به ټکسي ونیسم، زه پوهېږم چې څنګه ټکسي درته ونیسم."

خو د ګرځندوی سره د هغه مېرمن هم ورسره وه، او لونړې یې وډاربدلې - د هغه مرسته یې نه غوښتله. سامرسیټ غوښتل چې مرسته ورسره وکړي، خو نه یې شوای کولای. که هغه سړی تبنتېدلای وای، سامرسیټ نشوای کولای چې مسؤلیت یې په غاړه واخلي. خلک باید خپلې ستونزې په خپله حل کړي. سامرسیټ په یوه ټکسي کې سپور شو او د موټروان څخه یې وغوښتل چې کورته یې بوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر لارۍ باندې څنګ ته يې يو امبولانس د پوليسو د دوو موټرانو سره تېر شو. سامرسيټ وليدل چې د سړک پر څنګلاره باندې يو جسد پروت وو. هغه وليدل چې مخ يې په وينو لړلی وو، سامرسيټ تشويش وکړ –او فکر يې کاوه کېږي هغه به اوس هم ژوندی وي. په بله کوڅه کې بيا جګړه روانه وه. د جګړې د ميدان پر شا او خوا خلک راټول شول او په چيغو او نعرو يې پيل وکړ. کله چې د هغوی موټر تېر شو، سامرسيټ بېرته پر خپلې څوکۍ باندې تکيه وکړه او سترګې يې پټې کړې. هغه نه غوښتل چې نور ورته وګوري.

موټروان پوښتنه وکړه: "تا چېرته غوښتل چې ولاړ شې؟"

سامرسيټ سترګې خلاصې کړې، او ويې ويل: " له دې ځای نه ډېر لېرې."

وو، هغه خو همداسې ګومان وکړ. ډېر لېرې له دې ځای نه – هغه بېرته سترګې پټې کړې او ډېره ژوره سا يې وايستله...

د ټليفون غږ سهار وختي بيا سامرسيټ له خوبه راپاڅوئ. يو بل قتل تر سره شوی وو. کله چې د بستر نه را ولاړ شو، هيله يې کوله چې د تل په شان نور ډېر باک پرې و نه کړي. د هغه په آند په بې باکۍ به د نومړي راتلونکي اووه ورځې په اسانۍ سره تېرې شي.

کله چې سامرسيټ د پېښې ځای ته ورسېد، د پوليسو د حوزې کارکوونکو عکسونه اخيستل او د ګوتو د نښو پسې ګرځېدل. مړی پر ځمکه باندې د جسد په ځانګړې کڅوړه کې پروت وو او ايستلو ته چمتو وو. پر دېوال باندې ډېره وينه وه او د جسد تر څنګ يوه توپنچه هم پر ځمکه پرته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه پولیس وویل: "ګاونډیانو د هغوی د چیغو آوازونه اورېدلي دي. هغه کس چې د دوی د کور تر شا ژوند کوي، وایي چې د دوی شور ماشور کابو دوه ساعته دوام وکړ او تل به د دوی دا حال وو."

یو ځوان چې لنډ وربښتان یې وه او چرمي جمپر یې اغوستی وو، کوټې ته وردننه شو. ځوان سړي وویل: "د کشف افسر سامرسیټ، زه ډېویډ میلز یم، او نن زما لومړی ورځ ده چې د انسان وژنې قضیه څېړم."

سامرسیټ لاس ورکړ، خو څه یې ونه ویل. میلز سامرسیټ ته کتل چې د کوټې شا او خوا ګرځېدی را ګرځېدی. سامرسیټ یو ډنګر، میانه عمره تورپوستی سړی وو چې تروش او خپه مخ یې وو او سترګو یې کڅوړې کړې وې. کله چې میلز به ویل چې هغه به د سامرسیټ سره یو ځای کار وکړي، نو د پولیسو په حوزه کې به هر یوه خندله. میلز به حیران وو چې دا نو ولې؟

سامرسیټ وپوښتل: "د وروستي ځل لپاره دې چېرته دنده تر سره کړه؟"



(c) ketabton.com: The Digital Library



میلز: "سپرینګ-فیلډ، په شمال کې واقع دی."

سامرسیټ: "هلته به په کال کې څو مره د قتل قضیې پیښېدلې؟"

میلز: "کابو شپېته یا اویا قضیې."

سامرسیټ: "دلته په یوه میاشت کې دومره قتلونه تر سره کېږي."

میلز: "هوکې، خو هلته یوازې دریو کشفي افسرانو کار کاوه."

میلز نه غوښتل چې خپله نوې دنده په جګړه پیل کړي، خو هغه سپرنګ-فیلډ ځکه پرېښود چې دده په آند هغه ډېر کوچنی وو او دومره مهم ښار نه وو. هغه غوښتل چې د ریښتیني کشفي افسر دنده تر سره کړي. هغه غوښتل داسې ځای دنده تر سره کړي چې کار یې د ارزښت وړ وګرځي.

سامرسیټ فکر وکړ چې میلز احمق دی چې په ښار کې یې ځانته کار کول غوره کړل. سامرسیټ وویل: "ستا څخه غواړم چې د راتلونکو اوو ورځو لپاره دا په یاد ولرې چې دا سپرینګ-فیلډ نه دی..."

سهار وختي، میلز له خوبه پاڅېدی او پر خپل بستر باندې ناست وو. مېرمنه یې تړېسي تر څنګ ورسره پرته وه. د هغې دا ښار د شور ماشور، ناپاکۍ او جنایتونو له کبله نه خوښېدی.

میلز د خپلې مېرمنې څېره پېژندلې وه. د تړېسي غټې سترګې او کوچنی خوله وه، او میلز ته به یې هر کله یو ماشوم ور په یاد کړ. هغه فکر کاوه چې مېرمنه یې په موسکا خوله ښایسته ښکاري. خو کله چې نوموړې دې ښار ته را کډه شوه، ډېر یې نه خندل. د هغې پر مخ به تل وېره او پرېشاني ښکارېده. حتا په خوب کې به لا وېرېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


میلز به هم فکر کاوه دې ښار ته راتګ کېږي د هغه یوه لویه غلطي وي. کېږي سامرسیټ ریښتیا ویلي وي. سپرینګ-فیلډ تر دې ځای ښه وو.

بیا په فکر کې ور وګرځېدل چې نه! هغه ښه پرېکړه کړې چې دې ښار ته را کډه شو. او همدارنګه خوشحاله هم وو چې سامرسیټ به ژر تقاعد شي. هغه په پای کې پوه شو چې د پولیسو په حوزه کې ولې هر یوه غوښتل چې سامرسیټ دې ژر لاړ شي.

ناڅاپه د ټلیفون زنګ راغی، ټریسي وغورځېده او په لوړ آواز یې وویل: "دا څه وه!"

د مخه له دې چې دوهم زنګ راشي، میلز ژر ټلیفون پورته کړ او ټریسي ته یې وویل: "هیڅ خبره نه ده، د ټلیفون زنګ وو."

سامرسیټ زنګ وهلی وو، او ویې ویل: "پر ۳۷۷ بایلر سړک باندې زما سره ووینه."

د سامرسیټ خبرې میلز ناکراره کړ. او ویې پوښتل: "څه خبره ده؟"

سامرسیټ: "ښایي قتل"، مخکې له دې چې میلز کومه بله پوښتنه وکړي، سامرسیټ ټلیفون بند کړ.

کله چې میلز راورسېدی، سامرسیټ د اپارتمانونو د ودانۍ د باندې پر *بایلر سړک* ولاړ وو.

سامرسیټ: "دننه بربښنا نشته، څراغ ته اړتیا لرو."

میلز وپوښتل: "ستا په ګومان کله به وژل شوی وي؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



"نه پوهېږم، خو دومره درته ویلای شم چې د پنځه څلوېښتو دقیقو را پدېخوا یې د آشو پر کاسه باندې مخ پروت دی."

د اپارتمان دننه چټلې او ککړې کاسې، لوښې، خلاصې کوتۍ او د خوارو بکسونه هرې خوا ته پراته وه. د خځلی پر سطل باندې میاشې ګرځېدلې، او ډېر بد بوی یې ولاړېدی. یو ډېر چاغ سړی د مېز سره ناست وو او مخ یې د آشو پر کاسه پروت وو. هغوی تر اوسه پورې داسې چاغ سړی نه وو لیدلی.



سامرسیټ ولیدل چې د چاغ سړي پښې او لاسونه تړلي وه. هیڅ یې سر نه خلاصېدی چې څه ورپېښ شوي وه. وروسته یو عدلي ډاکټر کوټې ته ور دننه شو، او کشفي افسرانو ته یې هیڅ ونه کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


میلز وپوښتل: "څه فکر کوې، آیا زهر یې ورکړي دي؟"

د ځواب ورکولو پر ځای، ډاکټر د سړي مخ د آشو د کاسې څخه را پورته کړ، او ویې ویل: "مړ دی، د لاس څراغ دې دده پرخوله باندې برابر کړه. څه شي وینې؟"

سامرسیټ څراغ د سړي پر خولې برابر کړ.

ډاکټر: "کوچنۍ آبي رنګه ټوټې یې په خوله کې وینې ؟"

سامرسیټ: " هو کې، دا څه دي ډاکټره؟ "

ډاکټر: "نه پوهېږم، هیڅکله مې داسې شی نه وو لیدلی."

د سړي سر یې بېرته د آشو پر کاسه ایله کړ.

د مړي نوم پیټر ایوبانکس وو. جسد د عدلي طب په کوټه کې پروت وو او میلز او سامرسیټ د ډاکټر سره خبرې کولې.

ایوبانکس تل چاغ وو، خو نه دومره چاغ لکه څنګه چې په مړ حالت کې پړسېدلی ښکارېدی. وزن یې کابو ۳۰۴ پونډه وو. ډاکټر وویل چې ځینې هډوکي یې د ډېر وزن له کبله کاږه شوي دي.

د میلز په ګومان دا سړی کېږي د زهرو په واسطه مړ شوی وي، خو ډاکټر دا نه منله. ډاکټر د آزمایښت لپاره د جسد ځینې ځایونه غوڅ کړي وه، او میلز ته یې ور وښودل چې زهر ورکړل شوي نه وه. میلز په ځیر سره ورته وکتل او ویې پوښتل: "آیا ته وایې چې دا سړی د ډېر خوراک له کبله مړ شوید ی؟"

ډاکټر: "هو کې، دا د هغه د مړینې یوازینی سبب کېدای شي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



سامرسيټ وويل: "نو دده پر څټ باندې دا نښې د څه دي؟ داسې ښکاري لکه پر سر باندې چې يې ټوپک په فشار باندې نيول شوی وي."

ډاکټر: "ډېر امکان لري، چې ټوپک يې په فشار سره پر سر باندې اېښودل شوی وي، او پر ځان باندې يې څرګنده ښکاري."

سامرسيټ پر مېز باندې مرتبانونو او ګيلاسونو ته وکتل، يو ګيلاس يې را پورته کړ او ويې پوښتل: "ډاکټر صاحب، زه يوه پوښتنه لرم. آيا دغه آبي رنګه مواد د مړي په خوله کې وه؟"

ډاکټر: "نه، دا چې ستا په لاس کې دي، دا مې د مړي په معده کې وموندل. هغه چې يې په خوله کې وه دلته په دغه ګيلاس کې دي."

سامرسيټ: "ستا په نظر دا به څه وي؟"

ډاکټر خپل سر وښوروی، او ويې ويل: " زه نه پوهېږم." د مړي جسد يې په کڅوړه کې وپوښئ.

ډاکټر: "نن سهار يې څلور جسدونه دلته راوړل. او موږ ډېر مصروفه وو."

کله چې ډاکټر روان شو، سامرسيټ وپوښتل: "که د آبي رنګه موادو په هکله مو معلومات تر لاسه کړ، ماته ژر احوال راکړئ."

وروسته له غرمې، کپتان پر څوکۍ ناست وو او د چاغ سړي د قضيې په اړه يې راپورونه لوستل. هغه سړي اوس بل نوم نه درلود. اوس صرف "چاغ سړی" نومېدئ. کله چې کپتان د ډاکټر رپورټ لوستی، ميلز ايسار وو. د کپتان عمر د پنځوسو کلونو په شا او خوا کې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ځان پوستکی يې ډېر خراب وو او مخ يې داسې ښکارېدی لکه تر ستر ګو لاندې چې يې غټې کڅوړې ځوړنده وي.

میلز لیدل چې سامرسیټ پر دا قضیې باندې ډېر زیات کار کړی وو. هغه به حیران وو چې سامرسیټ به څه ډول سړی وي. د ګواښ او خطر په وخت کې به سامرسیټ څه وکړي؟ آیا سامرسیټ به تر میلز ژر غبرګون ښودلای وای کله چې ریک پارسنز... هغه ته پخوا وختونه ور په یاد شول.

میلز او ریک د ښوونځی د وخت ملګري وه. ریک په سپرینګ-فیلډ کې تر ټولو ښه د پولیسو افسر وو. خو هغه شپه کله چې دوی دواړو د مړینې پر یوې قضیې باندې یو ځای کار کاوه، میلز دا فکر کاوه چې قاتل به پر پولیس باندې فیر و نه کړي. کله چې میلز ولیدل چې د سړي په لاس کې وسله ده، نو ډېر ژر یې فیر و نه کړ. میلز یو څه ډېر انتظار و ایستئ. سړي پر ریک باندې فیر وکړ -او ریک به اوس د ژوند تر پایه د ګوډانو پر څوکۍ باندې ګرځي. ریک او ټرېسي به خامخا فکر کوي چې د میلز ګناه نه وه، خو میلز تل فکر کوي چې پخپله ملامت دی.

څو شېبې وروسته، کپتان د راپور په اړه خپل سر ښوراوه، او ویې ویل: "هېڅ باور نشم کولای، ته څه وایې؟"

سامرسیټ سر وښوراوه: "هوکې، دا سړي باید یوه لاره غوره کړې وای. یا یې باید ډېر خواړه خوړلي وای او یا باید ویشتل شوی وای. قاتل د هغه مخې ته خواړه ایښي وه، او په هغه یې په زوره خوړله. کابو دوولس ساعتونه مسلسل یې په هغه باندې په زوره ډوډۍ خوړله. قاتل هغه نه پرېښودی چې ویده شي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



کپتان ډېر وارخطا ښکارېدی. میلز وپوهېدی چې هغه څه ډول احساس درلود. هغه هم نه غوښتل چې په دې باور وکړي.

سامرسیټ وویل: "زه فکر کوم چې دا یې لا اوس پیل دی."

کپتان په غوسه وویل: "موږ، تر اوسه نه پوهېږو. تر اوسه خو صرف یو نفر وژل شوی دی. نه څلور یا درې. حتی دوه لا نه."

سامرسیټ ستړی ښکارېدی، او ویې ویل: "نو ددې کار دلیل څه دی؟"

کپتان په غوسه وویل: "بیا یې مه شروع کوه سامرسیټه!، د مخه د هر شي وړاندوینه مه کوه، ته هیڅ کوم ثبوت نه لرې چې دا سې یو بل قتل به تر سره شي."

سامرسیټ ډېر ستومانه وو، او نه یې غوښتل چې استدلال وکړي، نو یې وویل: "زه غواړم چې ددې قضیې څخه ځان وباسم."

کپتان وویل: "ستا خو صرف یوه اوونۍ پاتې ده، نو څه فرق به وکړي؟"

سامرسیټ وویل: "دا زما وروستۍ قضیه نشي کېدلای. دا به دوام پیدا کړي. زه نه غواړم چې د قضیې د پای ته رسولو نه مخکې ولاړ شم."
سامرسیټ میلز ته اشاره کړه او ویې ویل: "او که زما نظر غواړې، نو دا به ستا لومړنۍ قضیه نه وي."

میلز د ځای نه وخوځېد، او په لوړ آواز یې وویل: "دا زما لومړنۍ قضیه نه ده! او ته په پوهېږې!"

(c) ketabton.com: The Digital Library


سامرسيټ: "دا دده لپاره ډېر وختي دی. ميلز د داسې قضيو لپاره چمتو نه دی."

کپتان وويل: "ګوره، زه کوم بل د کشف افسر نه لرم چې دا قضيه ور وسپارم. موږ ډېر افسران نه لرو. او ته هم په دې خبر يې."

ميلز وويل: "ما ته يې راکړه کپتان صاحبه. زه يې حل کولای شم."

کپتان مخ واړوی او د سامرسيټ سترګو ته يې په ځير سره وکتل، او ويې ويل: "ته ددې قاتل په اړه ريښتيا وايې؟ ته فکر کوې چې دا اوس د هر څه پيل دی؟"

سامرسيټ په "هوکې" سره سر ورته وښوروئ.

کپتان په لوړ آواز وويل: "اوف!، ما هر وخت غوښتل چې تا غلط ثابت کړم، خو ته هر کله پر حق يې، نو ځکه د چاغ سړي قضيه تا ته در پرېږدم . او ميلز، تا ته به يوه بله قضيه درکړم چې کار پرې وکړې."

ميلز: " خو کپتان صاحب... "

کپتان: "خو خو نشته ! دا زما پرېکړه ده. اوس ورځه !"

د ميلز اعصاب ډېر خراب شول او غوښتل يې چې څوکۍ تر کړکۍ لاندې وغورځوي. هغه غوښتل چې د سامرسيټ سره پاتې شي. هغه نه غوښتل چې دوی فکر وکړي چې ميلز دا دنده نوې پيل کړې ده. هغه غوښتل چې کپتان ته ور وښيي چې يوازې هم کار کولای شي. حتی که په ښار کې هم وي.

کپتان بيا په امر وويل: " تا واورېدل ميلزه، ورځه ! "

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

# حرص (Greed)

راتلونکی سهار سامرسیټ په خپل دفتر کې ناست وو چې کپتان یې دفتر ته ورننوتی.

کپتان وپوښتل: "خبر شوې؟"

سامرسیټ: "په څه شي؟"

کپتان: "پرون د ایلي ګولډ مړی پیدا شو."

ګولډ په ښار کې تر ټولو نامتو د مدافع وکیل وو. هیڅ داسې مجرم نه وو چې ګولډ یې دفاع نشوای کولای. هر څومره چې به مجرم بد وو، ګولډ به د مدافع وکیل په توګه د هغه دفاع کوله. که مجرم ډېرې پیسې ورکړې وای، هغه به تر پایه پورې هڅه کوله چې مجرم د محاکمه کېدو نه وژغوري. په دې یې باک لا نه کاوه چې جرم یې څومره بد دی.

کپتان وویل: "یو څوک یې دفتر ته په پټه ورغلی او ځای پر ځای یې وژلی دی، او د هغه په وینه یې پر ځمکه د (حرص) کلمه لیکلې وه."

"حرص؟"، سامرسیټ ددې پر ځای چې حیران شي، د ایلي ګولډ د نورو بدو کړنو په فکر کې ولاړ.

کپتان: "زه میلز ته دنده ورکوم چې دا قضیه مخې ته بوځي. ما ورته ویلي وه چې ډېر ژر به یوه قضیه ور وسپارم. کاشکې داسې یوه پیښه نه وای." سامرسیټ بېرته ټایپ کولو ته ادامه ورکړه، او ویې ویل:

"زه ډاډه یم چې ښه به یې مخې ته بوځي."

(c) ketabton.com: The Digital Library





کپتان خپل سر ښوراوه او شکمن ښکارېده. "ستا به هغه ځای خوښ نه شي. ته پوهېږې چې ته به لاړ نشې. دا يوازې ستا په فکر کې در ګرځي چې ته تلای شې."

سامرسيټ وويل: "زه اوس دا ځای نشم پرېښودلای. ددې ځای په چاپېريال او شرايطو مې اوس هيڅ سر نه خلاصېږي. پخوا به خلکو يو څوک ديوه دليل پر بنسټ وژی، حتی که يو نا معلومه دليل به هم وو. خو اوس خلک د لوبې او ساعتېری لپاره نور خلک وژني، او دې ته ګوري چې څه به وروسته پېښ شي."

کپتان يوه اوږده سا و ايستله، او ويې ويل: "زه پوهېږم چې ته څه وايې. زما غوښتنه دا ده چې تا له لاسه ورنکړم. دوی نور ستا غوندې د کشف افسران نه روزي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



سامرسیټ وویل: "میلز درسره دی، هغه به ښه کار درسره وکړي."

کپتان: "خو هغه به ستا غوندې نه وي."

*سامرسیټ ته هم په فکر کې ورګرځېده – لکه هغه چې نه په پوهېږي چې میلز څه کوي.*

کپتان په داسې حال کې چې د آبي رنګه موادو ډک کوچنی مرتبان یې په لاس کې وو، وویل: "اوف، نیږدې مې هېر شوي وای. د چاغ سړي په معده کې دغه مواد وه. ډاکټر فکر کوي چې قاتل دا مواد په هغه باندې په زوره خوړلي دي. دا د ځمکې د فرش ټوټې دي."

سامرسیټ بېرته د ایوبانکس یا چاغ سړي اپارتمان ته لاړی. هغه غوښتل چې پوه شي چې دا آبي رنګه مواد به د کوم ځای نه شکول شوي وي. هغه هرې خوا ته وکتل خو هېڅ یې پیدا نکړای شوای، خو کله چې یې د یخچال لاندې وکتل، وپوهېدی چې دا مواد د هغه ځای نه شکول شوي وه. هغه غټې ټوټې چې د سامرسیټ په مرتبان کې وې، نوموړي هغه واخیستې او پر کوچني سوریانو یې بېرته کښېښودې، چې بېرته سمې او برابرې هلته نصب شوې. کوم چا یخچال له خپله ځایه بې ځایه کړی وو او د فرش ټوټې یې جلا کړي وې.

سامرسیټ هڅه وکړه چې یخچال د خپله ځایه را کش کړي تر څو وګوري تر شا یې څه دي. د دېوال څخه یې خاورې او چټلي پاکه کړه، او چې کله ځیر شو، نو ویې لیدل چې پر دېوال لیکلي وه (*نسورتوب*). یو پاک سپین رنګه کاغذ پر دیوال ځوړند وو. سامرسیټ هک پک شو. هغه لاس وغځوی چې کاغذ راواخلي، خو یو څه ډېر یې باید لاس ورغځولای وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروسته سامرسیټ په خپل خالي اپارتمان کې د چاغ سړي د یخچال تر شا د موندل شوي توټې په اړه فکر کاوه.

که هغه په دې اړه څه و نه وایي، نو د ایوبانکس او ګولډ د قتلونو تر منځ تړاو ته به د هیڅ چا فکر ونه شي، او دا به میلز ته ستونزمن وي تر څو په حقیقت پوه شي. خو سامرسیټ داسې نشوای کولای... میلز دې ته چمتو نه وو. میلز خو دا فکر کاوه چې هغه ددې کار وړ دی، خو په اصل کې یې نشوای کولای. دا تر اوسه پورې د سامرسیټ ستونزه او مسؤلیت وو. نو نوموړی اوس د دوو شیانو سره مخ وو: *(نسورتوب)* او *(حرص)*.

میلز د هغه نوټ په لوستلو چې د چاغ سړي د یخچال تر شا موندل شوی وو، ډېر تعجب وکړ، او ویې ویل: " ته به نو وایې چې د وروستیو دوو قتلونو تر منځ کوم تړاو شته."

هغه نوټ بیا وو ایه، چې پر لیکلي وه: "*اوږده ده لاره خو ستونزمنه – د دوږخ د باندې، لاره ځي رونښایي ته.*"

میلز وویل: "دا نو څه مانا؟ آیا هغه غواړي چې موږ ته یو څه ووایي؟ دا خو ما ته لېونتوب ښکاري."

د سامرسیټ لپاره ډېره ستونزمنه وه چې ځان کنټرول کړي. خو ددې پر ځای چې میلز ته ووایي چې "احمق یې"، د هغه دوو کلمو انځورونه یې په لاس کې ونیول، چې پر یوه په وینو *(حرص)* لیکلی وو، او پر بل باندې *(نسورتوب)*، او ویې ویل: "آیا تا کله د اوو لویو ګناوو په اړه څه اورېدلي میلزه؟ *حرص، نسورتوب، غوسه، حسادت، لټي، غرور او شهوت؟*

(c) ketabton.com: The Digital Library


د میلز کرار کرار سر خلاص شو او ویې ویل: "نو ته فکر کوې چې قاتل د هرې ګناه لپاره یو کس وژني؟"

سامرسیټ: "زه خو همداسې فکر کوم، همداسې نه ده؟"

میلز حیران شو او ویې ویل: "اوف، نو دا دواړې قضیې له یو بل سره تړاو لري؟"

سامرسیټ خو پوهېدی، سر یې وښوروئ چې هو کې، او ویې ویل: "تا خو د ډېر کار غوښتنه کوله، دا دی اوس کار درته پیدا شو."

د سامرسیټ د تقاعد وروسته چې به کومې څېړنې میلز تر سره کوي، د سامرسیټ په آند پایله به یې هیڅ وي، او قاتل به بېله کومې ستونزې ټول قتلونه تر سره کړي. دا په دې مانا نه وه چې میلز نه په پوهېدی. میلز په اصل کې په ځنځیري وژنو نه پوهېدی - دا سپرینګ-فیلډ نه دی.

هر څومره چې سامرسیټ هڅه وکړه چې دا ځای پرېږدي، نه یې شوای کولای. اوس باید لاړ نشي. هغه نشوای کولای چې میلز یوازې پرېږدي. هغه باید د میلز سره یو ځای دا څېړنې او قضیې مخې ته بوځي.

څو شېبې وروسته میلز په داسې حال کې چې د ګولډ په دفتر کې یې قدم واهه، سم دلاسه یې خپل نوټونه لوستل.

د مېز تر شا پر دېوال باندې یوه غټه نقاشي وه. هغه یوه مډرنه نقاشي وه، چې په تور، سور او زرغون رنګونو باندې کرښې او شکلونه باندې رسم شوي وه. پر مېز باندې د وزن ماشین پروت وو او وینه پر وچه شوې وه. پر ځمکه باندې پر لیکل شوي پاڼو د وینو رنګ تر وچېدو وروسته سور او نصواري اووښتی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


میلز غوښتل چې اسناد او شواهد پیدا کړي – البته داسې نښې او نښانې چې دوی باید د ثبوت موندلو په موخه د هغه نه کار واخلي. نوموړي غوښتل چې دا ثابته کړي چې سامرسيټ یوازې کس نه دی چې څېړنیز کارونه سر ته رسوي. میلز په دې باور درلود چې د پېښې محل او ځای د جرم په ثابتولو کې ډېر مهم دی. باید سندونه، نښې او شواهد موجود وي تر څو د دوی سره د مجرم په پیدا کولو کې مرسته وکړي.

میلز د یوې میانه سنې ښځې انځور راپورته کړ. په انځور کې ښځې د دروا غو موسکا کړې وه، ډېر آرایش یې کړی وو او وربښتان یې هم سره رنګ کړي وه. نوموړې آغلې ګولۍ وه. قاتل د آغلي ګولۍ پر انځور باندې د هغې د سترګو پر شا او خوا په وینو ګردې حلقې رسم کړې وې.

میلز فکر کاوه آیا کېدای شي دا کوم څرک وي؟ ولې قاتل د هغې د سترګو پر شا او خوا داسې حلقې رسم کړې وې؟ آیا دا به د قاتل راتلونکی هدف وي؟ آیا هغې کوم څه لیدلي دي؟ میلز نه په پوهېدی. دا څه وه چې د میلز سره نه په خلاصېدی؟ آیا داسې څه خو به نه وي چې هغوی ورته کتل خو سر یې نه په خلاصېدی؟

راتلونکی سهار سامرسيټ په خپل دفتر کې ناست وو او د "چاغ سړي" پر قضیې باندې یې کار کاوه او میلز یې د دفتر ته وردننه شو. د میلز په لاس کې د ګولۍ د قضیې ډېر کاغذونه وه، او ټوله یې پر خپل مېز باندې کښېښودل او د ګولۍ د دفتر انځورونو ته یې کتل.

لومړی سامرسيټ غوښتل چې مرسته ورسره وکړي، خو وروسته یې فکر وکړ چې میلز باید په خپله په کار بلد شي. میلز به آخر په کار بلد شي او سامرسيټ خو درې ورځې وروسته دا ځای پرېښودی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو تر څو چې میلز خپلې څېړنې تر سره کوي او پای ته يې رسوي، نور خلک به هم مړه شي. نوموړي مرستې ته اړتیا درلوده. داسې مرسته چې لاره ورته وښودل شي. سامرسیټ خپل قلم کښېښود، او ویې ویل: "په اصل کې موږ د یو ځنځیري قاتل په لټه کې یو."

میلز پر سامرسیټ باندې په لوړ آواز نعره کړه: "ته فکر کوې چې زه احمق یم؟!!"

سامرسیټ ډېر په خواشینۍ سره وویل: "نه، مطلب مې دا نه وو. هدف مې دا وو چې موږ تر اوسه په دې اړه خبرې نه دي کړي. زما په آند موږ باید په دې اړه خبرې وکړو."

میلز: "زه نه غواړم خبرې وکړم."

سامرسیټ: "ولې؟"

میلز: " په دې خاطر که موږ پر هغه د ځنځیري قاتل نوم کښېږدو، دا قضیه به FBI (د امریکا د فدرال پولیسو څېړنیزه اداره) ځانته واخلي، او بیا موږ باید د هغوی لپاره کار وکړو.

سامرسیټ: "خو... "

میلز: "نه !، زه حتی نه غواړم په دې اړه خبرې لا وکړم."

هماغه شېبه د ټلیفون زنګ راغی. د ټلیفون په لین کې ټرېسي، د میلز مېرمنه وه. هغې غوښتل چې د سامرسیټ سره خبرې وکړي، خو د سامرسیټ هیڅ سر خلاص نه شو چې ولې.

ټرېسي: "د کشف افسر سامرسیټه، آیا کولای شې د نن شپې ډوډۍ زموږ سره یو ځای وخورې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library


سامرسیټ: "ښه، مننه، ته ډېره مهربانه یې."

ټرېسي: "زه ډېر ښه پخلی کوم او د میلز څه مې ستا په اړه ډېر څه اورېدلي دي. مخکې له دې چې ته لاړ شې، زه غواړم ستا سره ووینم."

شپه شوه، او کله چې میلز د سامرسیټ سره خپل د اپارتمان زینو ته ختئ، ناراحته احساس یې کاوه. سامرسیټ پوهېدی چې میلز خوشحاله نه ښکاري، خو سریې خلاص نه شو چې ولې.

د ډوډۍ خوړلو په خونه کې مېز په ډېر ښه ډول د دریو کسانو لپاره چمتو شوی وو.

یوه ځوانه ښځه د پخلنځۍ څخه را ووتله، په کرار آواز یې وویل: "سلام ښاغلیو."

سامرسیټ ولیدل چې ټرېسي ډېره ښایسته موسکا درلودله، او ویې ویل: "سلام ټرېسي، ستاسو په لیدو خوشحاله شوم."

ټرېسي: "هیله کوم، کښېنئ، د څیښلو لپاره څه راوړم؟"

سامرسیټ خپل کوټ و ایستی، او ویې ویل: "نه مننه، اوس نه" – وروسته یې سر د پخلنځۍ خواته وښوراوه، او ویې ویل: "د خواړو ښه بوی دی."

ټرېسي د سامرسیټ توپنچې ته وکتل. سامرسیټ ولیدل چې ټرېسي ښه احساس و نه کړ، نو سامرسیټ وویل: "د ډوډۍ پر مېز باندې زه خپله توپنچه ایسته کوم، ځکه دا ښه نه دی چې د ډوډۍ پر وخت مو توپنچه پر بغل باندې نښتې وي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټرېسي په خندا شوه، او ویې ویل: "ته پوهېږې، هر څومره چې توپنچو ته ګورم، هغومره بد احساس را ته پیدا شي."

سامرسیټ وویل: "زه هم همداسې احساس کوم." هغه خپله توپنچه د کوټ په جېب کې کښېښودله، او ویې ویل: "ما واورېده چې تاسو دواړه د ښوونځي د وخت دوستان یاست."

ټرېسي: "هو کې، زه د هغه وخت راهیسي پوهېدم چې زه به د ده سره واده وکړم."

سامرسیټ: " نو که د هغو کلونو راپدېخوا حساب ونیسو، تاسو د ډېر پخوا څخه واده کړی."

ټرېسي په خندا وویل: "هو کې، همداسې ده."

ټرېسي یو د لزانیا (یو ډول خواړه) لوښی پر مېز باندې کښېښود، او په دوو ګیلاسونو کې یې واین واچول. کله چې پر خپله څوکۍ کښېنستله، د سامرسیټ څخه یې وپوښتل: "تا ولې واده نه دی کړی؟"


سامرسیټ د لږ واینو څیښلو وروسته په فکر کې ولاړ او ویې ویل: "ما دوه ځلې واده کړی دی، خو په پای کې خوشحاله نه وو سره."

ټرېسي: "ما ته جالبه ده."

سامرسیټ په خندا شو او ویې ویل: "خلک ډېر ژر راباندې پوهېږي او ګوزاره نشي راسره کولای، که باور دې نه راځي د خپل خاوند څخه پوښتنه وکړه."

میلز په خندا شو، او ویې ویل: "په دې اړه خو سامرسیټ ریښتیا وایي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته کله چې مېز پاک شو او ترېسي ویده شوله، میلز او سامرسیټ د ګولډ د دفتر انځورونو ته کتل.

سامرسیټ وویل: "زما په فکر کوم څه ته مو سم نه دی فکر شوی، څه فکر کوې چې ګولډ به څه ډول وژل شوی وي؟"

میلز: "زما په فکر قاتل مخکې له دې چې ودانۍ د جمعې په ورځ وتړل شي، د ګولډ دفتر ته ور داخل شوی وو. د ګولډ جسد د سه شنبې په سهار باندې وموندل شو. هغه ودانۍ په دو شنبې ټوله ورځ تړلې وه، په دې مانا چې قاتل ښایي د ګولډ سره شنبه، یکشنبه او حتی دوشنبه یو ځای تېره کړې وي."

میلز د ګولډ د جسد یو انځور چې پر یوه چرمي څوکۍ باندې اخیستل شوی وو، را پورته کړ، او ویې ویل: "د ګولډ کالي ایستل شوي وه او نو موړی تړل شوی وو، خو یو لاس یې ایله وو. پر مېز باندې د وزن تله

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصل کې د ګولۍ نه وه. هغه قاتل له ځانه سره راوړې وه. قاتل ګولۍ ته یوه تېره چاړه په لاس ورکړې وه او ور څخه غوښتل یې چې د خپل ځان څخه خپل د بېلابېلو غړو ټوټې غوڅې کړي او په تله کې یې وزن کړي."

میلز یو کاغذ راپورته کړ، او ویې ویل: "د غه لیکنه هم هلته وه، ویې لوله."

سامرسیټ هغه کاغذ ولوست: *یو پونډ غوښه، نه کمه نه زیاته.*" شنبه، یکشنبه، دوشنبه. هغه ګولۍ ته پوره وخت ورکړی وو چې هلته کښېني او فکر وکړي. ته به څه وکړې کله چې ستا پر مخ باندې یو چا توپنچه نیولې وي؟"

میلز: "ریښتیا هم!"

میلز بل انځور راپورته کړ. هغه د آغلې ګولۍ انځور وو چې پر سترګو یې په وینو حلقې رسم شوي وې. میلز وویل: "دا د آغلې ګولۍ انځور دی. که قاتل موږ ته په دې شکل وایي چې هغې کوم څه لیدلي دي، زه نه پوهېږم چې هغه به څه وي، خو کله چې دا پېښه وشوه، آغلې ګولۍ په ښار کې نه وه."

سامرسیټ: "کېدای شي دا هغه څه نه وي چې هغې به لیدلی وي، خو هغه څه به وي چې هغې لیدلای شوای، خو د هغه چانس به یې نه درلود؟"

میلز: "وو، خو هغې څه باید لیدلي وای؟"

سامرسیټ خپل سر وښوراوه، او ویې ویل: "یوازې یوه لاره شته چې پیدا یې کړو."

(c) ketabton.com: The Digital Library


آغلې ګولډ په يوه خوندي کور کې وه چې امنيتي کسانو يې امنيت ساتئ. کله چې ميلز او سامرسيټ هغه کور ته ور دننه شول، د ميلز په فکر هغه ځای داسې ښکارېدی لکه څوک چې هلته د ځان د وژلو لپاره ورځي. آغلې ګولډ پر بستر باندې ناسته وه او ژړل يې. ميلز وويل: "آغلې ګولډ، بخښنه غواړم چې په راتلو کې مې ډېر ځنډ وکړ، خو... "

آغلې ګولډ: "پروا نه کوي، هيڅ خوب مې نه دی کړی کله چې... "

هغې بيا په ژړا پيل وکړ، خپل لاس يې پر خپلې خولې داسې ټينګ ونيوی لکه خپله ژړا چې په زوره بنده کړي. ميلز انځورونه را و ايستل، او ويې ويل: "آغلې ګولډ، زه ستا څخه غواړم چې دې انځورونو ته يو ځل بيا وګورې، او راته ووايه چې آيا کوم څه تاته بې ځايه ښکاري؟ هر کوم څه چې وي؟"

خو هغې ورته ونه کتل، او ويې ويل: "ما يو مليون ځل وليدل، بيا ورته نه ګورم... هيڅکله هم نه."

ميلز د ښځو د ژړا څخه کرکه درلودله، خو هغه پوهېدی چې دا کار بايد وکړي، او بيا يې وپوښتل: " هيله کوم آغلې ګولډ، تاسو وخت لرئ، ورته وګورئ، آيا کوم څه بې ځايه ښکاري که نه."

آغلې ګولډ وويل: "هيڅ شی بې ځايه نه دی." هغې بيا انځورونو ته و نه کتل.

ميلز وويل: "هلته کوم څه شته چې موږ يې نه وينو. يوازې ته زموږ سره مرسته کولای شې. موږ ستا مرستې ته اړتيا لرو، که ته انځورونو ته يو ځل بيا په ځير سره وګورې، د قاتل په موندلو کې به زموږ سره ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته وشي."

آغلې ګولډ: "سمه ده."

هغې انځورونه را واخيستل او ورته کتل يې – ميلز فکر کاوه چې هغه ډېر ژر ژر ورته ګوري. هغې يوه انځور ته په ځير سره وکتل.

ميلز وپوښتل: "څه دې وموندل؟"

آغلې ګولډ: "نقاشي"

په انځور کې يو مېز وو چې تر شا يې پر دېوال باندې يوه غټه نقاشي وه.

ميلز: "په نقاشي باندې څه شوي دي؟"

آغلې ګولډ ميلز ته داسې وکتل لکه هغه چې کوم غلط کار کړی وي، او ويې پوښتل: "دا ولې سرچپه ده؟"

سامرسيټ انځور د ښځې څخه واخيستی او ويې ويل: "سرچپه؟"

ميلز او سامرسيټ سمدلاسه د ګولډ دفتر ته ولاړل. سامرسيټ نقاشۍ ته وکتل او ويې ويل: "ته ډاډه يې چې زموږ کسانو به دا نقاشي بېځايه کړې نه وي؟"

ميلز: "حتی که لاس يې هم ور وړی وي، انځورونه له مخکې نه اخيستل شوي دي."

سامرسيټ هغه نقاشي له دېوال څخه را جلا کړه، ميلز فکر کاوه کېږي د هغه تر شا کوم بل پيغام په وينو باندې ليکل شوی وي. خو هلته هيڅ هم نه وه. ميلز وويل: "دلته هيڅ هم نشته. هغه موږ غولوي."

(c) ketabton.com: The Digital Library


سامرسیټ فکر وکړ چې کېږي میلز به ریښتیا وایي، او ویې ویل:

"دلته باید یو څه وي." سامرسیټ د دېوال هغه برخې ته کتل چې نقاشي پر ځوړنده وه.

میلز: "هغه به څه وي؟"

سامرسیټ: "یو ځل چُپ شه، زه فکر کوم."

دا خبرې میلز خواشینی کړ. آیا سامرسیټ په ریښتیا دا فکر کاوه چې میلز یو احمق دی؟

سامرسیټ یو برس او یوه کوچنۍ کوتۍ له جېبه را وایستله. پر یوې څوکۍ ودرېدی او د کوتې د ننبې اخیستلو پوډر یې په برس باندې پر دېوال وموږل، او ویې پوښتل:

"آیا پوهېږې چې دا کار څنګه وکړې؟"

میلز په شک کې شو، خو سامرسیټ خپل کار ته ادامه ورکړه. میلز هڅه کوله چې حوصله وکړي او غوښتل یې وګوري چې سامرسیټ څه وموندل.

میلز: " څه دي؟ ته څه وینې؟ هیڅ هم نه! همداسې نه ده؟"

سامرسیټ: "انتظار وباسه، صرف انتظار. تر اوسه پورې لا زه کار کوم. په پای کې سامرسیټ ګوښه شو، او میلز په ځیر سره هغه ځای ته وکتل چې سامرسیټ په برس باندې وموږځ.

په ډېر روڼ خط په ګوتو لیکل شوي وه: "*زما سره مرسته وکړه.*" او د ګوتو نښې لکه د مبنوانۍ خط څرګندې ښکارېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میلز هیڅ باور نه راتلی. هغه په تعجب سره سامرسیټ ته وکتل او فکر یې وکړ چې سامرسیټ په ریښتیا هم ډېر ځیرک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# درییم څپرکی

# لټي (Sloth)

سامرسیټ غوښتل وپوهېږي چې د ګوتو نښې به د قاتل د ګوتو د نښو سره یو شان وي او که نه. سامرسیټ او میلز کمپیوټر-کار ته کتل، او هغه لټول پیل کړه.

کمپیوټر-کار وویل: "دا خو درې ورځې نیسي، نو ولې دباندې نه ایسارېږئ؟"

د کمپیوټر د خونې دباندې یو زوړ کوچ پروت وو. سامرسیټ پر کښېنستی او خپل ساعت ته یې وکتل. دشپې د یوې بجې نه شل دقیقې تېرې شوې وې. میلز د کوکا کولا یوه کوتۍ د ماشین څخه را وایستله او د سامرسیټ څنګ ته کښېنستی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



میلز وپوښتل: "ته فکر کوې چې دا سړی لېوني دی او مرستې ته اړتیا لري؟ آیا د هغه ستونزه همدا ده؟"

سامرسیټ: " نه، زه داسې فکر نه کوم. داسې امکان نه لري. زه فکر نه کوم چې هغه به زموږ څخه غواړي چې ددې کار څخه یې منع کړو، هغه به تر هغه وخته پورې دا کار کوي تر څو چې خپلې موخې ته ورسېږي."

میلز: "زه نه پوهېږم. ډېر خلک شته چې داسې کارونه کوي خو په اصل کې نه غواړي تر سره یې کړي، خو په مغز کې یې داسې شیان ورګرځي چې باید بد او غلط کارونه وکړي."

سامرسیټ خپل سر وښوراوه او ویې ویل: "خو دا سړی نه. د هغه په مغز کې به ډېر شان ورګرځي، خو دا قتلونه یې په ډېرې هوښیارۍ سره پلان کړي دي. هغه به تر هغه وخته پورې دا کار ته دوام ورکوي تر څو چې خپل هدف ته ورسېږي."

میلز څه و نه ویل. خپل کوک یې وڅیښل - او سامرسیټ ته یې کتل.

سامرسیټ وپوښتل: "څه چُرت وهې، کومه ستونزه خو به نه وي؟"

میلز: "ولې هیڅ څوک باور نه کوي چې ته به تقاعد شې؟"

سامرسیټ نه پوهېدی چې دې پوښتنې ته څنګه ځواب ورکړي، ځکه کله کله به هغه په خپله هم په ځان باور نه درلود. سامرسیټ وویل: "آیا هغه څه چې دې نن شپه آغلې ګولډ ته د قاتل د نیولو په اړه وویل، ریښتیا وه؟"

میلز: " البته چې!"

(c) ketabton.com: The Digital Library


سامرسیټ: "ما هیڅکله هغې ته داسې خبره نشوای کولای. ما ډېر قاتلان لیدلي چې له ځانه دفاع کوي او یا ځان په لېونتوب اچوي. هغه قاتلان چې پیسې لري ځانته د ګولډ په شان د مدافع وکیل نیسي تر څو د هغه نه دفاع وکړي. ډېری کسان ورک شي. هغوی په څو اوونیو او میاشتو کې خلک ووژني او بیا ورک شي. زه ستا په شان فکر نشم کولای، نو ځکه زه غواړم لاړ شم."

میلز: "که ته داسې فکر کوې نو موږ اوس څه وکړو؟ را ته ووایه؟"

سامرسیټ: "موږ ټول شواهد را ټولوو. ټوله لیکو، او هیله به کوو چې کومه ورځ به ګټه ورڅخه واخیستل شي."

سامرسیټ پوهېدی چې هر څه چې به هغه کول، د نو موړي د غوښتنې سره به تل پای ته نه رسېدل. په پای کې به دوولسو معمولي کسانو پرېکړه کوله چې یو مجرم ګناهکاره دی او که نه.

څو ساعتونه وروسته کپتان د دوی مخې ته راغلئ او ویې ویل: "پا څېږئ خوبکانو! دغه دی ګټونکی!"

میلز او سامرسیټ ته پر کوچ باندې خوب ورغلی وو. میلز خپل ساعت ته وکتل، د سهار ۶:۲۵ بجې وې. د هغه په فکر پوره خوب یې نه وو کړی.

کپتان میلز او سامرسیټ ته یو انځور ورښودی او ویې ویل: "دغه دی ستاسو سړی." هغه د یو ځوان سړي انځور وو چې ډنګر مخ یې وو، اوږده وړېښتان یې درلودل او په غوږونو کې یې ډېر شمېر حلقې او غوږوالي وه. عمر یې ۲۵ کلن ښکارېدی او نوم یې ویکتور ډورکین وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کپتان: "موږ ډورکین پیژنو. هغه د غلا او جنسي جرمونو په تور په زندان کې وو. آخر ځل چې پولیسو ونیوئ، د خپل وکیل په مرسته بېرته ایله شو. وکیل یې ایلي ګولډ وو، ښاغلی (حرص)."

د میلز سترګې وځلېدلې، او ویې ویل: "دا زموږ د قضیې سره تړاو لري!"

کپتان: "ودرېږه، د میاشتو میاشتو راپدېخوا نه چا ډورکین لیدلی او نه یې د هغه په اړه څه اورېدلي، خو موږ یو آدرس موندلی او پسې ګرځو."

یو سور سری افسر د کلیفورنیا په نامه د څلورو نورو یونیفورم لرونکو افسرانو سره د دوی لورې ته ور ودانګل. کپتان په امر ورکولو پیل وکړ.

سامرسیټ د میلز څخه وپوښتل: "څه فکر کوې، آیا ډورکین قاتل دی؟"

میلز اول یو څه فکر وکړ، او بیا یې وویل: "داسې خو نه ښکاري، ته څه فکر کوې؟ زه فکر نه کوم چې زموږ قاتل به داسې ځانګړتیاوې ولري."

سامرسیټ سر وښوراوه، او ویې ویل: "نه، زموږ سړی نورې موخې لري. ډورکین خو داسې ښکاري لکه سهار چې د خوب د بستر نه د راپاڅېدو توان لا ونلري."

میلز: "وو، خو د ګوتو د نښو په اړه څه نظر لرې؟"

سامرسیټ یوه اوږده سا وایستله او ویې ویل: "وو، دا د هغه دي. ګومان کوم چې هغه به وي."

(c) ketabton.com: The Digital Library


میلز او سامرسیټ په موټر کې سپاره وه، او موټر یې هغه تور موټر ښاری کوم چې کلیفورنیا او یونیفورم لرونکي پولیس یې د ډورکین اپارتمان ته وړل. سامرسیټ خپله توپنچه را وایستله، او ویې ښوروله.

میلز: "کله ویشتل شوی یې؟"

سامرسیټ: " په مرمۍ باندې؟ نه. درویشت کاله کېږي چې کار کوم، یوازې مې درې ځلې خپله توپنچه را ایستلې ده. حتی یو ځلې مې هم ډک نه دی کړی. " هغه خپله توپنچه بېرته په بغل کې کښېښوده، او ویې پوښتل: " ته څنګه؟"

میلز خپل سر وښوراوه: " نه هیڅکله نه یم ویشتل شوی. یو ځلې مې خپله توپنچه را ایستلې ده... او فیر مې په وکړ. "

سامرسیټ: " ریښتیا؟"

میلز: "هوکې... هغه مې اول ځل وو چې د هغه ډول پېښې سره مخامخ شوم. یو سړي خپله مېرمنه وژلې وه. ما فکر نه کاوه چې هغه به داسې کس وي چې پر پولیس باندې به فیر وکړي. کله چې مې د کور دروازه ور ماته کړه، هغه تر کړکۍ دباندې پر یوه پولیس باندې خپله توپنچه نیولې وه. هغه یو ځل فیر وکړ او ما پنځه ځلې."

سامرسیټ: "آخر څه وشول؟"

میلز لومړی یو څه فکر وکړ، او بیا یې کیسه بل ډول بیان کړه، ځکه هغه احساس کاوه چې ګرَم دی، او ویې ویل: " ما هغه ووژئ، خو هغه بل پولیس پر پښه باندې وویشتل شو."

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلز فکر کاوه چې آیا سامرسیټ ته ووايي او که نه – چې په ریک باندې په اصل کې څه شوي وه.

سامرسیټ: "د هغه سړي وژل تا ته څه ډول احساس درکړ؟"

میلز: "ما فکر وکړ چې دا ډېر غلط کار وو. خو ته پوهېږې... زه باید ووايم چې ما هغه شپه ډېر ښه خوب وکړ."

خو میلز د ریک په اړه نه پوهېدی چې وروسته په هغه باندې څه وشول. وروسته چې کله میلز خبر شو چې ریک په پښو ګوډ شو، نو هغه ته به سم خوب نه ورتلی. هغه ته تر اوسه پورې سم خوب نه ورځي. سامرسیټ یو څو شېبې په ځُرت کې ولاړ او وروسته یې وویل: "ښه، زه ځان خوشبخته احساسوم، ما تر اوسه پورې هیڅ څوک نه دي وژلي."

میلز سر وښوراوه، او په فکر کې یې ور ګرځېده، چې نن ورځ به د هماغې شپې غوندې وي؟ آیا پر سامرسیټ به فیر وشي؟ ځکه میلز خو ډېر سُست دی. هغه له ځانه سره فکر وکړ چې –نه! –هغه نه غوښتل چې بیا داسې وشي.

موټر د دوی مخې ته د ډورکین د اپارتمان د ودانۍ سره ودرېدئ. یونیفورم لرونکو پولیسو د ودانۍ خوا ته ور ودانګل. سامرسیټ او میلز هغوی وڅارل. د میلز خوله وچه وچه کېده. هغه ته هغه شپه ور په یاد شوه کله چې ریک وویشتل شو. کله چې د زینو پټیو ته ختل، هغه خپله توپنچه را و ایستله. په درېیم پوړ کې یې یو نشه سړی په پښو کې ور ولوېد چې حتی د خپل ځایه خوځېدای لا نشوای. وروسته هغوی د ډورکین اپارتمان ته ورسېدل. کلیفورنیا نور ټوله تر شا کړل ترڅو نورو دوو کسانو ته لاره ایله شي او دروازه ماته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې دروازه ماته شوه، کلیفورنیا په لوړ آواز وویل: "وخوځېږئ! –پولیس! –پولیس! " هغه کله چې ماته دروازه پوري وهله، په لوړ آواز یې لاربنوونې ورکولې.

کله چې میلز وردننه شو نو ویې ولیدل چې هغه یو کوچنی، چټل او په دوړو لړلی اپارتمان وو. یونیفورم لرونکي افسران هر چېرته وه.

کلیفورنیا بیا په لوړ آواز غږ وکړ: "دلته! "

میلز وځغستل چې د خوب کوټې ته لومړی ننوځي. پر یوه کوچني بستر باندې یو نفر تر چټلې روجایي لاندې پروت وو. کلیفورنیا چې خپله توپنچه په دواړو لاسونو نیولې وه، د بستر خوا ته کرار کرار ورنیږدې شو. میلز هم خپله توپنچه په دواړو لاسونو نیولې وه. هغه ته په فکر کې ور ګرځېده ښایي د روجایي لاندې به د ډورکین په لاس کې توپنچه وي. هغه به پر کلیفورنیا باندې فیر وکړي، لکه څنګه چې پر ریک باندې فیر شوی وو.

کلیفورنیا په لوړ آواز وویل: "سهار په خیر!"

نفر هیڅ و نه خوځېد.

کلیفورنیا بیا په لوړ آواز وویل: " راولاړ شه ! – درته وایم چې ولاړ شه ! "

سامرسیټ د دروازې دننه وکتل، او هلته ډېر بد بوی وو. د بستر پورته پر دېوال باندې *(لتهي)* لیکل شوي وه.

کلیفورنیا روجایي راپورته کړه. وروسته ټولو ته دا ښکاره شول چې ډورکین نه غوښتل چې فیر وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پر بستر باندې ټینګ تړل شوی وو او ډېر ډنګر ښکارېدی، هیڅ څه یې په ځان نه وه، یوازې پوست او هډوکې وه. پر سترګو یې یو بنداژ را تاو شوی وو. سامرسیټ د ډورکین یو انځور را و ایستی، میلز وپوښتل: "آیا دا ډورکین دی؟"

سامرسیټ: "هوکې، دا ډورکین دی."

کلیفورنیا خپله توپنچه د ډورکین پر ښي بازو باندې ونیوله. د هغه لاس د څنګل څه پرې وو. میلز خپل سر ښوراوه، او څه چې یې لیدل هیڅ باور یې نه پرې کاوه، او هماغه شېبه یې وویل: "اوف –نه –نه!"



(c) ketabton.com: The Digital Library


یوه پولیس ځیني انځورونه چې پر دېوال باندې ځوړند وه، سامرسیټ ته وروښودل. هغه د ډورکین انځورونه وه او هغه وخت اخیستل شوي وه چې نوموړی پر بستر باندې تړلی وو، او د هر انځور لاندې نېټه هم لیکل شوې وه – په هر انځور کې یو تر بل – ډورکین لا نور هم ډنګر ښکارېدی.

پولیس وویل: "ټوله دوه پنځوس انځورونه دي، ما وشمېرل."

سامرسیټ د لومړي انځور نېټې ته وکتل، او ویې ویل: "پوره یو کال د مخه، په همدا ورځ – دا قاتل به څه ډول سړی وو؟"

ناڅاپه د جسد څخه لوړ آواز راپورته شو. کلیفورنیا پر یوې څوکۍ باندې پرشا ولوېد، او په لوړ آواز یې وویل: "هغه ژوندی دی!"

د ډورکین خوله خلاصه وه او شونډې یې لږ خوځېدلي وې. د ستونې څخه یې یو عجیبه آواز راوتئ.

کلیفورنیا بیا وویل: "هغه ژوندی دی! – ژر یو امبولانس را وغواړئ!"

سامرسیټ او میلز د غرمې وروسته بېرته خپل دفتر ته ولاړل. سامرسیټ داسې ښکارېدی لکه د ټولې نړۍ وزن چې د هغه پر اوږو باندې بار وي. میلز په هغه ډېر ځورېدی. سامرسیټ یوازینی کس نه وو چې دا قضیه وڅېړي.

میلز وویل: "زه غواړم چې هغه دستګیر کړم، ته پوهېږې، زه غواړم چې ښه یې ووهم."

(c) ketabton.com: The Digital Library



سامرسيټ ځيني کاغذونه راپورته کړل او ويې ويل: "تا دا وليدل؟ د ډورکين د اپارتمان کرايه په منظم ډول ورکول کېده. قاتل ډېره هڅه کړې وه او په پوره نظم سره يې دا پلان جوړ کړی وو تر څو چې ډورکين دومره ډېره موده ژوندی وساتي. پوره يو کال – تر نن ورځې پورې – او د هغه د اپارتمان کرايه يې هم ورکوله. هغه پوهېږي چې څه بايد وکړي. او پوره حوصله ورته لري."

د سامرسيټ هغه نوټ او پيغام ور په ياد شو: *لاره اوږده ده، او ډېره ستونزمنه*.... او اووه لويې ګناوې... ؟

د سامرسيټ د کتاب لوستل ډېر خوښېدل. ښايي د قاتل هم د کتابونو لوستل ډېر خوښېدل. کېدای شي ډېر لوست او مطالعې نوموړي ته دا مفکوره ورکړې وي.

هغه ميلز له ځانه سره عامه کتابتون ته بوتلی. سامرسيټ داسې سړی وو چې هر ځای يې دوستان درلودل. په لنډ وخت کې، نوموړي يو داسې د کمپيوټر چاپ–شوی ليست ترلاسه کړ چې د هغو کسانو نومونه پکښې وه کوم چې جنايي او يا هم د ګناوو، کليساوو او انسان وژنې په اړه يې کتابونه لوستلي وه، او همدارنګه داسې کتابونه چې د قاتلينو د خوښې وړ وه.

هغوی د سامرسيټ په موټر کې کښېنستل او ليست يې لوستی. ميلز فکر وکړ دوی خپل وخت ضايع کوي.

سامرسيټ: "کوم نوم دې پيدا کړ؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library


میلز: "دلته یو نوم شته، چې باید ویې ګورو – دغه سړي کابو ... دېرش ډوله داسې کتابونه لوستلي دي."

سامرسیټ: "څه نوم یې؟"

میلز: "باور به دې را نشي –جان ډو* نوم یې."

*په لوېدیځو هیوادونو کې "جان ډو - John Doe" یو عام نوم دی او د هرچا لپاره چې اصلي نوم یې معلوم نه وي، استعمالېږي. نو ځکه میلز سامرسیټ ته وویل: "باور به دې رانشي...جان ډو نوم یې."

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

## جان ډو (John Doe)

د جان ډو اپارتمان د ښار د یوې بېوزلې سیمې په یوه نرۍ کوڅه کې وو. هغوی لفټ ته ورغلل او شپږم پوړ ته ور ختله. د جان ډو آپارتمان د ودانۍ په مخ کې وو، خو سامرسیټ دا فکر وکړ حتی که جان ډو هغوی ووینې، بیا به هم ونه پوهېږي چې دوی د څه لپاره هلته ورغلي.

میلز دروازه په زوره وټکوله. د سامرسیټ یو آواز ور په غوږ شو، خو د جان ډو د اپارتمان څخه نه وو. هغه شاته وکتل او یوه توره سایه یې پر دروازه باندې ور په سترګو شوه. وروسته یې یوه توپنچه ولیدله. سامرسیټ په لوړ آواز وویل: "میلز!"

سمدلاسه د توپنچې فیرونه شول، دواړو ځانونه پر ځمکه واچول او پروت یې وکړ. د توپنچې آواز د سامرسیټ غوږ ور په درد کړ. د جان ډو د اپارتمان پر دروازه باندې د مرمۍ سوریان راښکاره شول.

سامرسیټ وپوهېدی چې دا هغه ډول مرمۍ دي چې په سر کې سوریان لري، او په فکر کې یې ورګرځېده که دا مرمۍ پر میلز لګېدلې وای، نو ده باید ټرېسي ته د میلز د مړینې خبر ورکړی وای. خو میلز مخکې له دې چې سامرسیټ یې منع کړي، خپله توپنچه یې را و ایستله او د جان ډو پسې یې چابک ور وځغستل.

سامرسیټ وویل: "احتیاط کوه" –ځکه هغه د ټرېسي تشویش کاوه.

سامرسیټ میلز څارۍ او لاندې پوړ ته یې پسې ځغستل. جان ډو په لاندې پوړ کې ولاړ وو او توپنچه یې په لاس کې نیولې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کله چې جان ډو بیا فیر وکړ، میلز تر شا شو. مرمۍ د سامرسیټ تر څنګ پر دېوال باندې ولګېدله.

میلز بیا هم ایسار وو چې جان ډو بل فیر وکړي، خو پر ځای یې د دروازې د ترړل کېدو آواز ور په غوږ شو. ډېر په چابکۍ سره میلز تر دروازې وځغستل او ویې لیدل چې جان ډو هم ځغستل. جان ډو یوه ښځه پورې وهله او د هغې په اپارتمان ور دننه شو.

میلز چې کله جان ډو څارۍ نو په لوړ آواز یې وویل: "پولیس!" –او میلز هم اپارتمان ته ور دننه شو. جان ډو د کړکۍ له لارې د اوسپنې پر یوه زینه باندې –چې په بېړنیو حالتونو کې کار ترې اخیستل کېږي –ژر ژر ښکته کېدی. میلز هم د کړکۍ په لورې وځغستل. جان ډو بیا فیر وکړ، او د کړکۍ ښیښه یې ماته کړه. کله چې میلز وکتل، جان ډو ورته نه ښکارېدی، خو د ځغستا آوازیې ور په غوږ کېدی.

میلز هم د اوسپنې پر زینه باندې ښکته شو او پر ځمکه یې ټوپ وکړ. کله چې یې پر سړک ځغستل، غوښتل یې چې نعرې ووهي. په کوڅو کې د خلکو ډېره ګڼه ګوڼه وه، او میلز ته مشکله وه چې جان ډو ووینې. یو ځل – ناڅاپه یې جان ډو ولیدی. جان ډو ایسار وو چې موټران کم شي او تر سړک تېر شي.

میلز د سړک په لورې وځغستل. موټران او لاریانې په ډېر سرعت تېرېدلې او موټر چلوونکو پر میلز نعرې وهلې.

جان ډو لیدل چې میلز هغه څاري. هغه د موټرانو تر بېروبار تېر شو او یوې تنګې نرۍ کوڅې ته ور دننه شو، او بیا پسې ورک شو. میلز یې هم تر شا وو، او په چټکۍ یې پسې ځغستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلز ناڅاپه ډېر ټينګ پر مخ وغورځېد. توپنچه يې د لاس څخه ولوېده –او هغه خپله واورېده چې توپنچه يې پر ځمکه ولګېده –او خپله هم پر ځمکه ولوېدی. درد يې دومره ډېر وو چې ميلز يې ډېر ناتوانه کړ. هغه چې پر ځمکه ولوېدی په فکر کې يې ورګرځېده چې کېږي په يوه کلکه تخته وهل شوی وي –او يا هم په يوه غټ لرګي باندې. د میلز پام نه شو چې څه شوي وه، خو د هغه په فکر کې دغه دوه شان ورګرځېدل. جانډو په اصل کې هغه په يوه تخته باندې وهلی وو.

میلز وپوهېدی چې پزه يې ماته وه. هغه ټوخله او د خولې څخه يې وينې را تلې. هڅه يې کوله چې خپلې سترګې پرانيزي. هغه د يو سړي دوې پښې وليدلې چې د ميلز توپنچه راپورته کوي. ميلز هڅه کوله چې خپله توپنچه په خپله را پورته کړي، خو هغه درد دومره بد وو چې ميلز ددې توان نه درلود تر څو له خپل ځايه ښور لا وخوري. وروسته يې پام شو چې د هغه خپله توپنچه يې پر مخ باندې ور نيولې وه. د ميلز خوله د وينو ډکه وه، سم يې ليدلای نشوای، او هيڅ يې نشوای کولای.

لږ شېبه وروسته، توپنچه يې د مخ څخه لېرې شوه. هغه ژوندی وو. وروسته يې احساس وکړ چې پر ټټر باندې يې يو څه راولېږي. بيا يو څه يې پر نس راولوېدل. جانډو د ميلز د توپنچې مرمۍ را ايستلې او د هغه پر سينه باندې يې ور غورځولې. هغه وليدل چې جانډو بيا ځغستل، ميلز لکه ړوند سړی بيا يې غوښتل چې خپله توپنچه بېرته را واخلي او مرمۍ پکښې تېرې کړي.

سامرسيټ چابک او په ځغستا ميلز ته را ورسېدی، او ويې ويل:
"ميلزه!، ته جوړ يې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه د میلز تر څنګ پر زنګنو کښېنستی او ویې ویل: "زه به اوس امبولانس را وغواړم."

میلز کرار ولاړ شو، او ویې ویل: "نه، زه ښه یم."

سامرسیټ وپوښتل: "څه وشوه؟"

میلز ډېر په غوسه وو، او خبرې یې نه کولې. هغه د خپل سترګو څخه وینې پاکې کړې او درد یې دومره ډېر وو چې سامرسیټ هغه په غېږ کې ونیوئ. سامرسیټ غوښتل وپوښتي چې څه پېښه وه. خو میلز ډېر په غوسه وو. سامرسیټ پوهېدی چې میلز به یو ډېر لوی حماقت وکړي.

څو شېبې وروسته، د جان ډو د اپارتمان ماته دروازه په ډېرې اسانۍ سره پرانیستل شوه. دننه ډېره تیاره وه ځکه ټول دېوالونه تور رنګ شوي وه، او همدا رنګه کړکۍ هم تورې رنګ شوي وې. په بله خونه کې یوازې یو څراغ او یوه څوکۍ وه. یوه بله کوټه هم توره رنګ شوې وه. هلته یو کوچنۍ تخت پروت وو چې خیرنه روجایي پر پرته وه. د خونې په منځ کې یو کوچنی مېز د یوه څراغ سره پروت وو. د مېز دننه د دواوو پاک بوتلان او د مرمیو کوتۍ پرتې وې. میلز ولیدل چې ځینې مرمیانو په سر کې سوریان درلودل – چې "پولیس وژونکي" مرمۍ ورته وایي.

د کوټې په کونج کې یو بل کوچنی مېز پروت وو. پر سر یې ډېر توکي منظم پراته وه او یو مرتبان هم پر پروت وو چې د ننه یې د انسان لاس وو.

د میلز په فکر کې ور وګرځېدل – د ویکټور ډورکین لاس، "اوف..."

میلز تشناب ولید. په هغه کې خام–رنګه سور څراغ لګېدی. جان ډو د هغه څخه د عکاسۍ تیاره کوټه جوړه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شا او خوا فلمونه ځړېدل. پر دېوالونو باندې هر چېرې انځورونه موښتي وه. د پيټر ايوبانکس انځورونه هم وه – کله چې ژوندی وو. د ايلي ګولډ انځورونه وه – کله چې يې خپل د ځان غوښې غوښولې. د ويکټور ډورکين انځورونه هم وه، کله چې يې د تصوير اخيستلو په وخت کې د مرستې او همدردۍ غوښتنه کوله. د يوې ژړ وربښتانو والا نجلۍ انځورونه هم وه چې پر يوه بستر باندې ناسته وه. هغه روغه او جوړه وه، خو ډېره ناآرامه ښکارېدله.

ميلز ليدل چې جان ډو د خلکو په وژلو کې ډېره هڅه کړې وه، او هر کار ته به مخکې له مخکې چمتو وو. د سامرسيټ او ميلز انځورونه هم وه –کله چې د ډورکين په اپارتمان کې اخيستل شوي وه.



(c) ketabton.com: The Digital Library


ناڅاپه د ټليفون زنګ راغی. ميلز د تشناب نه دباندې وځغستل. سامرسيټ وويل: "د ټليفون آواز له کومه ځايه راځي؟"

ميلز ټليفون د خوب په کوټه کې وموند، پورته يې کړ او ويې ويل: "هلو."

هيڅ کوم ځواب نه وو. يو څا زنګ وهلی وو خو خبرې يې نه کولې. ميلز بيا وويل: "هلو."

په نري آواز جان ډو وويل: "ډېر ښه، زه نه پوهېږم چې تاسو څنګه وموندلم، خو د هرې ورځې په تېرېدو سره زه تاسو نور هم ستايم."

ميلز: "ښه جان ډو، راته ووايه..."

جان ډو: "نه نه! ماته غوږ ونيسه!، زه بايد اوس خپل پلان ته بدلون ورکړم. ما تاسو ته په دې خاطر زنګ ووهۀ چې درته ووايم تاسو ډېر هوښياران ياست، او غواړم چې بخښنه وغواړم ځکه ستاسو يو کس راڅخه ټپي شو."

ميلز ډېر په غوسه وو، او هيڅ ځواب يې ور نه کړ.

جان ډو ادامه ورکړه: "زه غواړم چې نورې خبرې وکړم، خو نه غواړم چې مخکې له مخکې هر څه افشا کړم..."

ميلز: "هدف دې څه دی؟"

جان ډو: "بيا به سره وينو."

ميلز: "يو ځل ټليفون مه قطع کوه..."

جان ډو وختي لا ټليفون قطع کړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله کوټه بیا د جان ډو کتابتون وو. درې دېوالونه په کتابونو ډک وه. هماغه ډول کتابونه وه کوم چې جان ډو د عامه کتابتون څخه اخیستي وه. سامرسیټ حیران وو چې جان ډو د دومره کتابونو د لوستلو لپاره څنګه وخت درلود. یو دېوال بیا په کتابچو ډک وو، چې شمېر یې زرګونو ته رسېدی. هرې کتابچې شا اوخوا ۲۵۰ مخه درلودله، پر ټولو ورقو باندې جان ډو په خپل قلم باندې لیکنې کړې وې، او یو شمېر انځورونه چې د مجلو څخه غچي شوي وه، پکښې پراته وه.

میلز فکر کاوه چې دا یو لېونتوب دی، خو سامرسیټ بیا داسې فکر نه کاوه. هغه فکر کاوه چې دا یو ډارونکی او په زړه پورې کار وو. د جان -ډو لیکنو سامرسیټ وډاروئ، خو سامرسیټ ساعتونه ساعتونه تېرول چې ویې لولي او هڅه یې کوله چې د جان ډو په نظریو باندې پوه شي.

د جان ډو د اوس زمانې د خلکو د ژوندانه طریقه نه خوښېدله. سامرسیټ د ډېرو شیانو سره همغږی وو. دا یوازینی دلیل وو چې نوموړي غوښتل تقاعد شي او د ښار څخه دباندې ژوند وکړي. خو جان ډو بیا غوښتل چې بدلون راولي. خو ستونزه دا وه چې جان ډو په خپله هم جوړ نه وو. د خلکو وژل به هیڅکله بدلون رامنځته نه کړي.

سامرسیټ په داسې حال کې چې کتابچې لوستلې، میلز کوټې ته ور دننه شو او ویې پوښتل: "آیا جان ډو د قتلونو په اړه کوم څه لیکلي دي؟"

سامرسیټ: " نه، داسې کوم څه مې و نه موندل، آیا ستا سره کوم څه نوي شته؟"

میلز سامرسیټ ته د یوې ژړ وربښتانو نجلۍ عکس وښودی چې د یوې کوټې په پای کې ولاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


میلز: "په تشناب کې ددې ښځې عکسونه د جانډو د نورو قربانیانو سره ځړېدل."

سامرسیټ: "دا ښه نښه نه ده چې جانډو ستا عکس هم واخیستی، ته پوهېږې چې دا ښځه به څوک وي؟"

میلز سر وښوراوه، او ویې ویل: "نه، خو هر څوک چې ده، د جانډو په پلان کې ده..."

سامرسیټ: "باید د دفتر څخه معلومات تر لاسه کړو، کېږي هغوی وپوهېږي چې دا څوک ده. کېږي موږ بریالي شو – او تر هغه وخته پورې چې دا سا باسي موږ یې باید پیدا کړو."

سامرسیټ خپل ساعت ته وکتل، تر یو ولسو تېرې وې، نو ویې ویل: "باید اوس کور ته ولاړ شو، او یو څه خوب وکړو."

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

## شهوت (Lust)

یو ساعت وروسته کله چې سامرسیټ پر بستر باندې پروت وو، د ټلیفون زنګ ورته راغی. هغه د ټرېسي زنګ وو. سامرسیټ ساعت ته وکتل – نیمه شپه وه. سامرسیټ وپوښتل: "ټرېسي، خیریت خو دی؟"

ټرېسي: "هو کې، خیریت دی، وبخښه چې ناوخته مې زنګ ووهی. زه صرف غواړم.... د یو چا سره خبرې وکړم. آیا زما سره لیدلای شې؟ سبا سهار څنګه؟"

سامرسیټ: "زه نه پوهېږم ټرېسي، ته ډېره وارختا ښکارې."

ټرېسي: "زه ډېر د حماقت احساس کوم، خو باید ووایم چې ته په دې ښار کې یوازینی کس یې چې زه یې پېژنم."

د سامرسیټ هیڅ سر نه خلاصېدی چې د هغه لپاره به څه وکړای شي، او ویې ویل: "ټرېسي، تر خپل توانه پورې به در سره مرسته وکړم."

ټرېسي: "که سبا راسره ملاقات کولای شې، نو بیا زنګ راته ووهه. زه باید اوس ولاړه شم. ښه شپه." هغې ټلیفون بند کړ.

راتلونکی سهار سامرسیټ د ټرېسي سره د پولیسو حوزې ته نیږدې په *پارتینون قهوه خانه* کې سره ولیدل.

سامرسیټ: "ټرېسي، اوس راته ووایه، څه خبره ده؟"

ټرېسي: "تا ته دا ښار ښه معلوم دی، او ته دلته د ډېر پخوا راهیسې ژوند کوې."

(c) ketabton.com: The Digital Library


سامرسيټ سر وښوراوه، او ويې ويل: "دلته ژوند کول ستونزمن دی."

ټرېسي: "د هغه وخت نه چې دلته راغلې يم، سم خوب مې نه دی کړی. زه خوندي احساس نه کوم. حتی په کور کې لا نه."

سامرسيټ نه پوهېدی چې څه ووايي. بايد هغه د خپل خاوند سره په دې اړه خبرې وکړي، نو ويې ويل: "د ميلز سره خبرې وکړه. هغه به تا ښه درک کړي."

ټرېسي: "زه نه پوهېږم چې ولې مې تا ته وويل چې راشه. "په داسې حال کې چې د ټرېسي لاسونه رېږدېدل، ويې ويل: "ته پوهېږې، زه يوه ښوونکې يم. ما هڅه کوله چې دلته په يوه ښوونځي کې ځانته کار ومومم. خو دلته ټوله ښوونځۍ ... عجيبه او وېرووونکي دي." هغه کرار کرار په ژړا شوه.

سامرسيټ: "څه دې ډاروي؟"

ټرېسي: "زه اميندواره يم... "

سامرسيټ: "ټرېسي، ته بايد زما سره په دې اړه خبرې ونه کړې."

ټرېسي: "زه له دې ښار نه کرکه لرم."

سامرسيټ اوږده سا وايستله او ويې ويل: "آيا ته غواړې چې دا کوچنی ولرې... ؟"

ټرېسي: "هوکې، زه غواړم چې ماشومان ولرم."

(c) ketabton.com: The Digital Library



سامرسيټ: "ټرېسي، زه تا ته يوازې يوه مشوره درکولای شم. که ته نه غواړې چې دا کوچنی ولرې، نو ميلز ته مه وايه. خو که ته غواړې چې دا کوچنی ولرې، نو نن ورځ ورته ووايه. دغه يوازينی مشوره ده چې زه يې تاته درکولای شم."

کله چې سامرسيټ د ځای نه ولاړ شو، ټرېسي هغه تر لاس ونيوی او ويې ويل: "ژمنه وکړه چې د تقاعد وروسته به هم زما سره اړيکه ساتې."

سامرسيټ: "ولې نه، وعده ده."

وروسته سامرسيټ ولاړی او د خدای په امانېدو وروسته يې لاس پورته کړ.

کله چې سامرسيټ د پوليسو حوزې ته ورسېد، ميلز په دروازه کې ورسره مخامخ شو، او ويې ويل: "يو بل مړی مو پيدا کړ."

سامرسيټ سترې ښکارېدی او دا خبره ورته ډېره جالبه نه وه، ځکه هغه پوهېدی چې نور قتلونه به هم وشي.

د *هاټ هوس* د مساج مرکز دباندې دېوال روښانه او سور رنګ شوی وو. د پوليسو موټران هرې خواته ولاړ وه. يونيفورم لرونکو پوليسو هڅه کوله چې د خلکو د بېروبار مخه ونيسي، خو بيا هم دا کار ورته دومره آسانه نه وو.

ميلز خلک پوري وهل او روان وو، سامرسيټ هم تر شا ورپسې وو.

يوه پوليس د دروازې د ساتونکي سره خبرې کولې: "آيا تا کوم آواز اورېدئ؟ آيا کوم بېګانه سړی خو به دې نه يې په سترګو شوی؟"

ساتونکی: "نه!"

(c) ketabton.com: The Digital Library


ساتونکي یو لوی چاغ سړی وو، او داسې ښکارېدی لکه یو بدرنګه ځناور چې وي –بیا یې وویل: "هر څوک چې دلته راځي لکه بېګانه داسې ښکاري، او نعرې وهي. په داسې ځایونو کې خو به خا مخا دا پېښې کېږي."

پولیس: "آیا په دې ځای کې د خپل کار نه خوشحاله یې؟ او هر څه چې وینې خوښېږي دي؟"

سړی په خندا شو، او ډېر بدرنګه ښکارېدی –او ویې ویل: "نه، نه مې خوښېږي، خو همدا ژوند دی، همداسې نه ده؟"

میلز او سامرسیټ خلک پوري وهل. دننه دېوالونه په سره رنګ، رنګ شوي وه، او په سور رنګه څراغونو کې لا نور سور رنګه ښکارېدل.

سور رنګ او د راک موسیقي آواز میلز ته دا احساس ورکړ لکه د دوږخ یوې برخې ته چې ګوري. یوه پولیس هغوی دواړه یوې کوټې ته بوتلل او هلته یو ډېر تېز سور رنګه څراغ لګېدی او خاموشه کېدی، او ویې ویل: "جنابیي افسرانو، هغوی دلته دي." پولیس په دروازه کې ودرېدی او بیا یې وویل: "زه نه غواړم چې بیا دننه ننوځم، زه تاسو ته دلته ایساریږم."

میلز په ډېر احتیاط کوټې ته ور دننه شو. هغه څراغ ته حیران پاتې وو. هلته هم موسیقي ډېر په لوړ آواز چالانه وه. دوو ډاکټرانو د یوه سړي سره چې کالي یې په ځان نه وه، خبرې کولې. د سړي عمر د پنځه پنځوسو کلونو په شا او خوا کې وو او تور او سپین وربښتان یې وه. لاسونه یې تر شا تړل شوي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوټې په منځ کې پر يوه غټ بستر باندې يو جسد په يوه روجايي کې پېچلی پروت وو. روجايي ډېره په وينو لړلې وه. د وژل شوي نجلۍ ژړ ورېښتان د بستر پر اړخونو باندې موښتي وه. ميلز ته يې تېرېسي ور په ياد کړه، او هغه يې په غوسه کړ. ولې دغسې ځای هغه ته خپله مېرمنه ور په ياد کړه؟

تور او سپين ورېښتانو والا سړي له ډاکټرانو سره لانجه کوله او په لوړ آواز يې وويل: "هغه په زوره دا کار راباندې وکړ، او توپنچه يې په لاس کې وه."

د بستر تر شا پر دېوال باندې د (شهوت) کلمه ليکل شوې وه. ميلز چې کله دېوال ته وکتل، ډېر په غوسه شو او لاسونه يې رېږدېدل.

سامرسيټ جسد ته کتل. ډاکټرانو وويل: "ته به و نه غواړې چې دا جسد ته دوهم ځل وګورې."

تورن سړي بيا په لوړ آواز وويل: "هغه په زوره دا کار راباندې وکړ، او توپنچه يې په لاس کې وه."

ميلز او سامرسيټ هم جسد ته کتل، او هغوی ته يې ډېر بد احساس ور په زړه کړ. د جسد پر لوړې برخې باندې هيڅ کومه نښه نه وه، او ښځه ټپي نه وه، هر څه لاندې وه...

تورن سړي دا ځل ډېر په آرامۍ وويل: "هغه زما څخه وپوښتل چې آيا ما واده کړی دی او که نه، او توپنچه يې په لاس کې وه..."

سامرسيټ: "نجلۍ چېرې وه؟"

تورن سړی: "نجلۍ؟ موخه دې څه ده؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library


سامرسیټ: "آیا نوموړې پر سړک وه؟"

تورن سړی: "هغه پر بستر باندې وه، او دلته ناسته وه."

سامرسیټ: "چا وتړله؟ تا که هغه بل سړي؟"

تورن سړي په ژړه ګوني آواز وویل: "د هغه سره توپنچه وه... توپنچه یې زما پر خوله باندې نیولې وه!"

د میلز هغه ورځ ور په یاد شوه کله چې جان ډو یې پر خوله باندې توپنچه ور نیولې وه. د هغه معده په درد شوه او زړه یې بد شو. خپله کتابچه یې را وایستله او هغه پاڼه یې خلاصه کړه چې اووه لویې ګناوې پکښې لیکلي وې. د هغه په نظر یوه بله هم تر سره شوه - لاسونه یې رېږدېدل او په فکر کې یې ورګرځېدل چې درې نورې لا پاتې دي: (حسادت)، (غوسه) او (غرور).

هغه پر روجایي باندې وینو ته وکتل او له ځانه سره یې وویل: "بل به څوک وي. خدایه بل څوک!"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

# غرور (Pride)

د ټلیفون غږ میلز له خوبه را پاڅوئ. هغه ناڅاپه د بستر څخه ولاړ شو. ټرېسي په خپلو نوکانو د میلز لاس کنبېکنبئ، او ویې ویل: "میلزه، څه خبره ده؟"

میلز په چټکۍ سره ټلیفون پورته کړ: "هلو؟"

"ما بیا دا کار وکړ."

میلز داسې احساس وکړ لکه وینه چې یې یخېږي. میلز د جان ډو آواز پېژندی. هغه څرنګه د میلز نمبر پیدا کړ؟

"جان ډو! ته خبرې کوې؟ خبرې وکړه!"

خو هغه د جان ډو زنګ نه وو. سامرسیټ زنګ وهلی وو.

میلز په غوسه شو، او په لوړ آواز یې وویل: "په تا بیا څه شوي دي سامرسیټه؟" میلز د بستر تر څنګ ساعت ته وکتل، د سهار ۳۸: ۴ بجې وې.

سامرسیټ: "هغه ساتونکی چې د جان ډو د اپارتمان ساتلو ته ګومارل شوی وو، ما ته یې زنګ ووهئ. جان ډو خپل اپارتمان ته زنګ وهلی وو، او دغه صوتي پیغام چې تا واورېدئ، هلته یې پرې ایښی وو."

میلز: "نور څه خو یې نه وه ویلي؟"

سامرسیټ: "نه. موږ یو بل جسد هم وموند – (غرور)."

(c) ketabton.com: The Digital Library


ټرېسي ډېره وارخطا وه، او ويې ويل: "څه خبره ده ميلزه؟"

د ميلز سر درد کاوه او ويې ويل: "کاشکې زه په پوهېدای."

کله چې ميلز د پېښې سيمې ته ورسېد، پوليس مخکې لا ورغلي وه او خپلې څېړنې يې تر سره کولې. سامرسيټ او ډاکټر د خوب په کوټه کې وه. لومړی ليکنې ميلز د بستر تر شا پر دېوال باندې وليدې: (غرور) -او تر لاندې يې -*ما هغه نه ده وژلې. هغې په خپله خونبه دا پرېکړه وکړه.*

جسد پر بستر باندې پروت وو، د ښځې پر مخ بنداژ را تاو شوی وو. بنداژ په وينو لړلی وو. په يوه لاس کې يې يو کوچنی بوتل وو. پر بستر باندې دوې سور رنګه ګولۍ هم پرتې وې. پر بستر باندې د ماشومانو د لوبو خرسکان چې د پنبه وو او وړيو څه جوړ شوي وه، شا او خوا پراته وه.

ډاکټر د جسد د سر څخه بنداژ غوڅ کړ. ميلز چې کله هغه ته وکتل، وېره ورته پيدا شوه. سامرسيټ د مړي يو انځور وموند او هغه يې ميلز ته ور ښکاره کړ. د هغې نوم ليندا ابرناتي وو –او ښايسته ښځه وه.

ډاکټر بنداژ لېرې کړ، د هغې پزه پرې شوې وه. ميلز چې کله هغه وليدله نو مخ يې بلې خوا ته واړوئ. د هغه زړه بد شو او کوټه يې پرېښودله.

سامرسيټ: "قاتل د هغې پزه ور پرې کړېده، او هغې ته يې د دواوو بوتل ورکړی وو. هغې ته يې ويلي وه چې يا به بېله پزې ژوند کوي او يا به ځان وژني."

ميلز او سامرسيټ د ټرافيک په ګڼه ګوڼه کې بېرته ځانونه د پوليسو حوزې ته ورسول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې هغوی د موټر نه ښکته شول، یو سړی هم د ټکسي نه ښکته شو، او هغوی دواړه یې د پولیسو د حوزې تر ودانۍ وڅارل – او ویې ویل: "بخښنه غواړم د کشف افسره؟"

میلز لا روان وو.

"د کشف افسره؟!"

میلز تر شا وکتل او ډېر په تعجب شو. هغه سړی جانډو وو. جانډو په خندا شو، او خپل لاسونه یې پورته ونیول. د هغه کمیس او پټلون په وینو لړلي وه.



د میلز هیڅ باور نه کېدی چې داسې پېښه به وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کليفورنيا په لوړ آواز وويل: "دا جان ډو دی." هغه خپله توپنچه د جان ډو پر غوږ ونيوله او په لوړ آواز يې وويل: "پر ځمکه پرېوزه! همدا اوس! ډېر ژر! "

ميلز او نورو پوليسانو هم خپلې توپنچې پر جان ډو نيولې وې. سامرسيټ بېرته د زينو څه لاندې ښکته شو، او ويې ويل: "احتياط وکړئ!"

جان ډو پر مخ پر ځمکه پروت وو، او څه چې ورته ويل کېدل، هماغسې يې کول، خو ميلز نه غوښتل چې نور خطر وزغمي، نو د جان ډو مخې ته ودرېد او توپنچه يې د هغه پر غاړه باندې کښېښوده، او په امر يې وويل: "لاسونه دې د سر تر شا ونيسه!، ځان مه خوځوه!"

جان ډو مخ واړوئ او سامرسيټ ته يې په خندا وويل: "سلام!"

کليفورنيا په لوړ آواز وويل: "خوله دې بنده کړه!" –او د جان ډو سر يې پر ځمکه کښېکښېئ.

ميلز سامرسيټ ته کرار په غوږ کې وويل: "دا څه دي؟، زما خو هيڅ سر خلاص نه شو چې دا څه دي؟"

سامرسيټ خپل سر وښوراوه.

جان ډو بيا ميلز ته وکتل، او ويې ويل: "زه غواړم خپل د مدافع وکيل سره خبرې وکړم."

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم څپرکی

## حسادت او غوسه (Envy and Wrath)

کله چې جان ډو د خپل وکیل سره خبرې کولې، سامرسیټ د هینداري تر شا ورته کتل. جان ډو ډېر آرام وو او خندل یې. هغه داسې ښکارېدی لکه یو معمولي سړی چې وي، هیڅ د قاتل بڼه یې نه درلوده.

د جان ډو وکیل پوښتنې کولې او بیا به یې په خپله کتابچه کې نوټ اخیستی. سامرسیټ د هغوی آواز نه اورېدی، ځکه د امریکا د قانون پر اساس هیڅ څوک حق نه لري چې د یوه مجرم او د هغه د وکیل خبرو ته غوږ ونیسي.

میلز او کپتان هم د سامرسیټ سره یو ځای هغوی ته کتل.

میلز: "کپتان صاحب، موږ د هغه نه کله پوښتنه کولای شو؟"

کپتان: " ته نشې کولای، ځکه هغه به وایي چې خپل ځوابونه یې ورکړي دي. د هغه خبرې ټوله د مدافع وکیلانو دفتر ته ځي."

میلز خپل سر وښوراوه، او ویې ویل: "داسې ښکاري چې هغه پښېمانه نه دی. تاسې خپله ورته وګورئ!"

سامرسیټ: "هغه تر اوسه پورې خپل کار پای ته نه دی رسولی."

کپتان وخندل او ویې ویل: "هغه به په زندان کې څه وکړای شي؟"

سامرسیټ: "زه نه پوهېږم، خو دومره پوهېږم چې هغه تر اوسه پورې خپل کار پای ته نه دی رسولی. مخکې له هر څه نه هغه باید د (حرص) او (غوسې) ګناه کاران مړه کړي."

(c) ketabton.com: The Digital Library


کپتان: "کېږي هغه خپل کار سر ته رسولی وي، موږ تر اوسه پورې د هغوی جسدونه نه دي موندلي."

سامرسیټ: "زه فکر نه کوم. هغه دا غواړي چې د وژلو پیغام یې ولېږي. نو ولې د وروستیو دوو قتلونو په اړه چُپ پاتې شي؟"

د غرمې وروسته، میلز او سامرسیټ د کپتان دفتر ته وروغوښتل شول. د جان ډو وکیل، مارک سوار هم هلته وو.

کپتان خپل سر مارک سوار ته وښوروئ او ویې ویل: "ورته ووایه."

مارک سوار خپل مخ میلز او سامرسیټ ته واړوئ، او ویې ویل: "زما موکل ما ته وویل چې دوه نور جسدونه یا قربانیان هم شته، او کوم چېري یې پټ کړیدي. نوموړی وایي چې هغه ځای به یوازې د کشف افسرانو میلز او سامرسیټ ته نن پر شپږو بجو ورښکاره کړي."

میلز: "ولې موږ ته؟"

مارک سوار: "هغه ستاسو ډېر درناوی کوي، او ستاسو کار ډېر ستایي."

سامرسیټ: "دا د هغه د ګېم (لوبې) یوه برخه ده."

مارک سوار: "زما موکل همدارنګه وویل که د هغه دا غوښتنه تر سره نه شي، نو په محکمه کې به ځان په لېونتوب واچوي، او جسدونه به هیڅکله و نه موندئ. خو که د هغه داغوښتنه ومنل شي، هغه به په خپل ټولو جرمونو همدا اوس اعتراف وکړي."

سامرسیټ: "که ستا موکل ځان په لېونتوب واچوي، ته به څه وکړې؟ هغه به لېونی ثابت نه شي؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارک سوار: "ښايي کوم څه وکړای شو، خو دا هم په یاد ولره که پولیس و نه توانېدل چې جسدونه ومونديي، بيا به ستاسو ځواب څه وي؟"

سامرسيټ: "خو موږ باید ډاډه شو چې په ريښتيا هم دوه نور جسدونه شته."

سامرسيټ پوهېدی چې دا ډېر ناسم کار دی چې د جان ډو په خوله وکړي او د هغه خبره ومني، خو د دې پرته کومه بله لاره نه وه.

میلز او سامرسيټ د پولیسو د حوزې د موټرانو په پارکينګ کې په خپل موټر کې کښېنستل. جان ډو هم له دوی سره په موټر کې ناست وو.

کابو یو نیم کيلومتر لېرې، کليفورنيا او دوه نور پولیسان د خپلو وسلو سره په چورلکه کې ایسار وه. کله چې چورلکله پورته شوه، یوه پولیس سامرسيټ ته اشاره وکړه چې حرکت وکړي.

د سامرسيټ او ميلز سره مايکروفونونه وه. په چورلکه کې کليفورنيا د هغوی ټوله خبرې اورېدلې. په هر ډول بېړني حالت کې کليفورنيا د هغوی سره مرسته کولای شوای.

سامرسيټ تر کوڅو ووتئ او ټوله جګې ودانۍ تر شا پاتي شوې. شل دقيقې وروسته هغوی لويو لارو ته داخل شوه او شا او خوا دښتونه وې.

جان ډو: "همدلته موټر ودروه، دغه ځای به سم وي."

سامرسيټ د موټر سرعت کم کړ. هلته هيڅ کوم بل څه نه وه – یو لوی دښت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخې ته د سړک ها خوا يوه ټيټه ودانۍ وه چې دا يوازينی ځای وو چې هغوی ته ښکارېدئ.

سامرسيټ موټر ودروئ. جان ډو ميلز ته وکتل او ويې ويل: "آيا اوس کولای شم د موټر څخه ښکته شم؟"

ميلز او سامرسيټ يو بل ته وکتل او نه پوهېدل چې آيا دا به د جان ډو د پلان يوه برخه وي او که نوموړی صرف لېونتوب کوي.

سامرسيټ لوړ وکتل، چورلکه هم نه ښکارېدله. هغه هيڅ نه پوهېدی چې جان ډو به دلته څه پلان ولري. هغوی په داسې ځای کې وه چې هيڅ څه هم نه وه، خو که هر څه پېښ شي، نو چورلکه به هغوی داسې وژغوري لکه يوه پيشو چې د موږک پسې راشي.

جان ډو سړک ته کتل او ويې ويل: "څو بجې دي؟ "

سامرسيټ: "ولې؟ د څه پسې ګورې؟" هغه خپل ساعت ته وکتل، د اوو بجو څه څو دقيقې تېرې وې.

جان ډو: "را به شي، هغه نيږدې دی – را روان دی."

په اوږده واټن کې يو سپين موټر ډېر چابک را روان وو او تر شا يې خاورې او دوړې لکه وريځ بادېدلې.

سامرسيټ خپله وسله را وايستله او د موټر په لورې يې وځغستل. ميلز ته يې وويل چې د جان ډو سره پاته شي.

ميلز خپله وسله را وايستله او جان ډو يې ټينګ ونيوئ، او سامرسيټ ته يې غږ کړه: "ودرېږه!" خو سامرسيټ هغه ته غوږ و نه نيوئ. ميلز خپله توپنچه د جان ډو پر مخ ونيوله او ويې ويل: "ښور و نه خورې!"

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليفورنيا هڅه کوله چې د سامرسيټ خبرو ته په ځير سره غوږ ونيسي، خو د مخابرې په غږ کې کومه ستونزه وه.

سامرسيټ: "يو موټر دی يو څه يې راوړي دي... نه پوهېږم چې څه به وي... "

جان ډو ډېر آرام وو او د سامرسيټ په لورې سوکه سوکه روان شو او ويې ويل: "ښه دی چې زه او ته اوس يو څه وخت لرو چې خبرې وکړو."

ميلز خپله توپنچه د جان ډو پښو ته ونيوله او ورته ويې ويل: "ودرېږه! او پر ځمکه کښېنه!" په هماغه شېبه ميلز سامرسيټ ته هم کتل.

جان ډو بېرته خپل مخ راواړوئ، کرار کرار يې خندل، او ويې ويل: "د کشف افسره، تا چې وينم نو به زړه کې مې حسادت پيدا شي."

سامرسيټ په هوا کې د توپنچې اخطاريه فير وکړ او موټر ودرېدئ. سامرسيټ په لوړ آواز موټر چلوونکي ته وويل: "دباندې راووځه، او لاسونه دې پر سر باندې ونيسه، همدا اوس!"

موټر چلوونکی راووتئ، لاسونه يې پورته نيولي وه، او په ژړه ګوني آواز يې وويل: "ما مه وله! څه غواړې؟ ته راته ووايه د څه په تمه دلته ولاړ يې؟ هغه څه چې غواړې زه يې درسپارم."

سامرسيټ خپله توپنچه پر سړي باندې نيولې وه او ويې ويل: "ته څوک يې؟ دلته د څه لپاره راغلی يې؟"

موټر چلوونکی: "دلته مې يو څه راوړي دي، ماته دا دنده راکړه شوې ده چې يو شی تاسو ته در وسپارم."

سامرسيټ: "د چا لپاره؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library


سامرسیټ خپله توپنچه د سړي پر سر باندې نیولې وه او د موټر د شا ټول–بکس یې خلاص کړ.

موټر چلوونکی: "دغه بکس مې راوړی دی، هغه بېګانه سړي پنځه سوه ډالره راکړه او راته ویې ویل چې دغه بکس باید دلته پر اوو بجو راورسوم... پر ما لږ څه ناوخته شو... خو..."

سامرسیټ دا ځل په کرار آواز وویل: "بکس را ښکته کړه او پر ځمکه یې کېښېږده."

موټر چلوونکي بکس پر ځمکه کېښېښود او تر شا لاړ – خپل لاسونه یې بېرته پر سر باندې ونیول.

سامرسیټ ولیدل چې پر بکس باندې لیکلي وه: *د کشف/افسر ډېویډ میلز لپاره.*

کلیفورنیا د سامرسیټ آواز د ړغ او ړوغ سره سره واورېدئ: "د جان ډو لخوا مو یو بکس تر لاسه کړ... نه پوهېږم چې دننه به پکښې څه وي... غواړم چې خلاص یې کړم."

کلیفورنیا د چورلکي پیلوټ ته وویل: "د بم د خنثی کولو ریاست ته زنګ ووهه، ډېر ژر یې دلته را وغواړه."

پیلوټ: "آیا لاندې ورشم؟"

کلیفورنیا: "نه، هغه تر اوسه موږ ته نه دې ویلي."

میلز غوښتل پوه شي چې سامرسیټ څه کوي. موټر چلوونکي وغښتل. سامرسیټ هم ورته وویل چې هغه ځای پرېږدي او لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان ډو خبرې کولې: "کاشکې زه يو معمولي سړی وای، کاشکې ما يو ساده ژوند درلودلای."

سامرسيټ د بکس تر څنګ پر زنګنو کت شو.

ميلز له ځانه سره وويل: "څه پېښه ده!"

سامرسيټ خپله چاړه له جېبه را وايستله او غوښتل يې چې بکس خلاص کړي. دننه يو دروند شی وو چې په پلاستيک کې پېچل شوی وو. پلاستيک په وينو لړلی وو، هغه دننه ورته وکتل.

يو ځل ناڅاپه سامرسيټ شا ته ولوېد او ويې ويل: "اوه خدايه!" ناڅاپه يې ډېر ناتوانه احساس وکړ. نه يې غوښتل چې بيا يې وګوري. خو بيا يې هم ورته وکتل او ويې ويل: "اوه خدايه!"

ميلز بيا هم کتل – لکه په سامرسيټ چې يو څه وشول. هغه جان ډو تر اوږه ونيوئ، او ويې ويل: "ولاړ شه!، راځه چې ځو!"

جان ډو هڅه کوله چې روان شي، خو د ميلز لپاره يې نشوای ځغستلای.

جان ډو: "تا د خپل ځان لپاره ډېر ښه ژوند جوړ کړی دی."

ميلز په ډېرې غوسې سره وويل: "چُپ شه او روان شه!"

سامرسيټ اوږده سا وايستله او هڅه يې کوله چې ضعف ونه کړي او ونه لوېږي. د هغه پښې ناتوانه شوې، پر موټر باندې يې لاس ونيوئ، او معده يې په درد شوه. کله چې پورته يې وکتل سترګې يې له اوښکو ډکې وې، او سم يې نشوای ليدلای، خو ميلز او جان ډو د هغه په لورې ور روان وه. سامرسيټ بيا هم له ځانه سره ويل: "اوه خدايه، دا ولې...!"

(c) ketabton.com: The Digital Library




میلز په لوړ آواز وویل: "سامرسیټ!، څه خبره ده؟"

سامرسیټ په لوړ آواز وویل: "خپله توپنچه وغورځوه!"

میلز: "ته څه وایې؟"

جان ډو بیا هم خبرې کولې: "زه غواړم چې ووایم زه ستا ډېر درناوی کوم... او ستا د ښایستې مېرمنې ترېسي هم... "

میلز بېرته مخ راواړوئ او ویې ویل: "څه دې وویل؟"

جان ډو خندل. سامرسیټ د میلز په لورې ور وځغستل او ویې ویل: "خپله وسله وغورځوه! دا امر دی!"

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلز: "ته تقاعد شوی یې! زه اړتیا نه لرم چې تا ته غوږ ونیسم."

میلز جان ډو ته ورنیږدې شو، او خپله توپنچه یې د هغه پر سینه باندې ونیوله.

جان ډو: "زه نن سهار ستا کور ته ولاړم. ته هلته نه وې، نو ما هڅه وکړه چې د خاوند رول ولوبوم. ما غوښتل چې یو ساده سړی اوسم... خو بریالی نشوم، او د هغه پر ځای مې له ځانه سره یو څه را واخیستل."

میلز په تعجب سره کتل او حیران ښکارېدئ. هغه خپل مخ سامرسیټ ته واړوئ چې پوښتنه ورنه وکړي.

سامرسیټ خپل لاس میلز ته ونیوی، سترګې یې له اوښکو ډکې وې او ویې ویل: "توپنچه دې ما ته راکړه."

جان ډو: "ما یو څه له ځانه سره را واخیستل چې ستا مېرمنه را په یاد کړي -د هغې ښایسته سر. ما د هغې سر غوڅ کړ، ځکه ستا له عادي ژوند سره مې رخه کېږي. داسې ښکاري چې (حسادت) زما ګناه ده.

میلز په لوړ آواز وویل: "دا ریښتیا نه دي! " هغه خپله توپنچه د جان ډو پر مخ ونیوله او ویې ویل: "ووایه چې دا ریښتیا نه دي!"

سامرسیټ میلز ځانته را کش کړ او ویې ویل: "زه تا نه پرېږدم چې جان ډو په مرمۍ وولې."

میلز: "په بکس کې څه دي سامرسیټه؟ را ته ووایه! "

سامرسیټ ځواب نشوای ورکولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


جان ډو ډېر آرام وویل: "ما همدا اوس درته وویل افسره."

میلز په لوړ آواز وویل: "چُپ شه!"

جان ډو غوښتل چې میلز په غوسه کړي، او ویې ویل: "په (غوسه) شه!"

میلز: "خوله دې بنده کړه!"

میلز جان ډو په خپله توپنچه باندې پر مخ ووهی.

سامرسیټ: "میلزه، هغه ستا نه غواړي چې ته همداسې وکړې – نه وینې؟"

جان ډو: "مړ مې کړه!"



(c) ketabton.com: The Digital Library



سامرسيټ: "هغه ستا نه غواړي چې مړ يې کړې. څه چې جان ډو غواړي ته هماغسې مه کوه. که ته يو تورن سړی مړ کړې، نو هر څه به له لاسه ورکړو."

ميلز: "بيا به ورته ووايو چې هغه تښتېدئ، او ما وويشتئ. پر دې به بيا وروسته خبرې وکړو، هيڅ څوک به په خبر نه شي."

سامرسيټ: "هغوی به تا بندي کړي ميلزه. هغوی ته دا مهمه نه ده چې جان ډو څوک دی. يو پوليس چې يو تورن سړی ووژني نو له ځانه دفاع نشي کولای. داسې مه کوه، داسې نه چې بندي شې."

ميلز: "پروا نه لري."

سامرسيټ: "که ته بندي شې ميلزه، نو دا جګړه به څوک مخې ته بوځي؟"

جان ډو په ډېرې آرامۍ سره وويل: "هغه ته غوږ مه نيسه، مړ مې کړه!"

سامرسيټ: "نه! که ته دلته و نه اوسې نو زما ځای به څوک ونيسي؟"

جان ډو: "ټريسي د خپل ژوند غوښتنه وکړه، او همدا رنګه د خپل د ماشوم د ژوند غوښتنه يې هم کوله."

ميلز حيران شو او لاسونه يې رېږدېدل.

جان ډو هم حيران شو: "ته خبر نه وې چې ته به پلار شې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library


سامرسیټ ډېر ستړی او ناتوانه ښکارېدئ، او ویې ویل: "که ته هغه مړ کړې، هغه به دا جګړه وګټي."

جان ډو سترګې پټې کړې او لاسونه یې پر خپل مخ باندې ونیول.

میلز د جان ډو پر مخ باندې فیر وکړ، او ویې ویل: "سمه ده، جان ډو وګټله."

د جان ډو د سر پورتنی برخه د مرمۍ په فیر سره والوتله، او هغه تر شا ولوېد. سړک په وینو سور شو.

میلز خپله توپنچه پر ځمکه وغورځوله، مخ یې واړوئ او روان شو. څو قدمه وروسته، پر زنګنو کت شو او لاسونه یې پر مخ کېښېښودل.

سامرسیټ جسد ته وکتل. د جان ډو د سر څخه وینې روانې وې. سامرسیټ خپلې سترګې پټې کړلې، او نه یې غوښتل چې نور ورته وګوري.

دوه ساعته وروسته سامرسیټ بیا هم هلته وو. د پېښې په ځای کې د پولیسو ډېر موټران ولاړ وه چې پر سر یې سره او شنه څراغونه لګېدل او مړه کېدل. هغوی میلز یو ساعت د مخه لا د هغه ځای څخه ایستلئ وو.

کپټان سامرسیټ ته ور نیږدې شو او ویې ویل: "هر څه ختم شول، ته اوس کور ته ولاړ شه."

سامرسیټ: "میلز څنګه شو؟ تاسو به اوس څه وکړئ؟"

کپټان: "موږ به یو ډېر ښه د مدافع وکیل ورته پیدا کړو، خو هغه به بې له شکه زندان ته ځي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



سامرسیټ په ډېرې خواشینی سره وویل: "نو په دې صورت کې جان ډو وګټله. هغه اووه کسان ووژل. که میلز حساب کړې اته، باید ووایم چې نهه... که هغه ماشوم هم ورسره حساب کړې."

کپتان: "ځه کور ته ولاړ شه، ته اوس تقاعد شوی یې."

سامرسیټ: "ما خپلې پرېکړې ته بېرته بدلون ورکړ، زه غواړم چې پاتې شم، او نه غواړم چې تقاعد شم."

کپتان: "په ځان ډاډه یې؟"

سامرسیټ: "پوره ډاډه یم."

سامرسیټ د خپل موټر دروازه پرانیستله او ویې ویل: "په دوشنبې به سره ووینو."

سامرسیټ پوهېدئ چې اوس دا ځای نشي پرېښودلای. میلز چې ولاړئ، نو یو بل څوک باید پاتې شي چې دا جګړه مخې ته بوځي.


پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Se7en

Anthony Bruno

(Novel)




ISBN 978-9936-643-02-4
9 789936 643024

کائینات څېړنيز او دژباړي مرکـــــــز
Kâyenât Research and Translation Center
مرکز تحقیقات و ترجـــــــمه کاینات

Pashto Translation: Aziz Basam

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**